Afghanistan Human Rights Coordination Mechanism

MADRE

# د بشري حقونو مستند کول



په افغانستان کې د بشري حقونو مدافعینو لاربښود

مدرى (MADRE) جولای ۲۰۲۳

مدرى (MADRE) د بشري حقونو يو نړيوال سازمان دى، چې په ۱۹۸۵ کې تاسيس شوى دى. دا سازمان د جغرافيو او نسلونو په پام کې نيولو پرته په جنسيتي، نژادي، اقليمي او معلوليتي برخو کې عدالت وړاندې کوي. ددى سازمان موخه داسې نړۍ ته وده ورکول دى، چې هلته ميرمنې او محروم خلک د پاليسيو او پرېکړو په واخيستلو کې بشپړه ونډه واخلي، د دوى تخصص او تجربه او د رهبرۍ مهارتونه وپيژندل شي او وده ورکړل شي او په مساويانه توګه په خپلو ټولنو کې واک او سرچينې ولري.

دا لاربود د بشري حقونو په اړه د مدرى (MADRE) د موجوده لاربودونو او جنسيتي تعذيب، د مدرى (MADRE) او UN Women د «په ښځو او ظلمونو کې د جنسيتي تعذيب پيژندل: د مستند کوونکيو، تحقيق کوونکيو او د بشريت ضد د جرمونو قاضيانو د زده کړې ټولګه» د نړيوالې جنايي محکمې د څارونکي دفتر (ICC OTP) او يورو جسټ» د حساب ورکونې موخو لپاره د نړيوالو جرمونو او بشري حقونو سرغړونو مستند کول: د مدني ټولنې سازمانونو لپاره لاربووونو،» او د ملګرو ملتونو ادارو او د نړيوالې جنايي محکمې د څارونکي دفتر پاليسيو او کړنلارو او همدارنګه د نړيوالو جنايي تحقيقاتوانستيتيوت، د لومړۍ کرښې مدافعين، او د شکنجې پروړاندې نړيوال سازمان ماخذونو پر بنسټ جوړ او ترتيب شوى دى.

د Freedom House د مالي ملاتړ څخه مننه کوو.

# لړلیک


**۱- پيژندنه- دا لارښود د څه لپاره دی؟** ٤

**۲- د بشري حقونو مستند کول څه ته وايي؟** ٤
د بشري حقونو مستند کولو اهميت ٤

**۳- د جنسيتي تعذيب مستند کول** ٥
جنسيتي تاوتريخوالی څه ته وايي؟ ٥
جنسيتي تعذيب څه ته وايي؟ ٥
د جنسيتي تعذيب قانوني عناصر ٥
جنسيتي جرايم او جنسيتي تعذيب څه ډول يو له بل سره تړلي دي؟ ٦
د جنسي تاوتريخوالي جرمونه او جنسيتي تعذيب سره څنګه اړيکه لري؟ ٦
ولې د جنسيتي تعذيب مستند کول مهم دي؟ ٧
د جنسيتي تعذيب بيلګې ٧

**٤- د بشري حقونو مستند کولو لپاره مهم اصول** ٨
د زيان نه رسول کړنلاره ٨
محرميت ٨
رضايت ترلاسه کول ٨
د زيان منونکو وګړو لکه د جنسي او جنسيتي تاوتريخوالي قربانيانو سره مرکې کول ٩

**٥- په مستند کولو کې د خونديتوب او امنيت اقدامات** ١٠
په خوندي توګه د معلوماتو زېرمه کول ١٠
د قربانيانو، زيانمنو او شاهدانو خونديتوب او امنيت ١٠
د مستند کوونکو خونديتوب او امنيت ١١
د ټولنيزو رسنيو کارولو لپاره عملي لارښوونې ١١

**٦- د حساب ورکونې ميکانيزمونو لپاره د مستند کولو د دوام ډاډمنول** ١٢
واقعيتوب، بې طرفي او خپلواکي ١٢
څومره معلومات بايد راټول شي ١٢
د مرکو د ترسره کولو څرنګوالی ١٣

**٧- د حساب ورکولو لپاره عدالت غوښتنه** ١٤
د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا ځانګړي راپور ورکوونکي ١٤
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه ماموريت (يوناما) ١٤
د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمشنر دفتر ١٤
د جرمونو نړيواله محکمه (ICC) ١٦
د ښځو پروړاندې د توپيري چلند د له منځه وړلو کميټه (CEDAW) ١٦
د سيوری راپورونه ١٧
د عدالت غوښتنې لپاره د قرباني-محوره او د حقونو پر بنسټ کړنلاره ١٧

**٨- د بشري حقونو مدافعينو لپاره رواني ټولنيز ملاتړ** ١٨
د بشري حقونو د سرغړونو د مستند کوونکو لپاره رواني ټولنيز ملاتړ ولې مهم دی ١٨
رواني فشار او فزيکي صدمه ١٨
د بشري حقونو مدافعينو لپاره د رواني ټولنيز ملاتړ اړوند ستراتيژۍ او غوره کړنې ١٩

**٩- د لازياتو معلوماتو منابع** ١٩
د بشري حقونو د سرغړونو قربانيانو او زيانمنو سره د مرکې ترسره کولو اړوند لارښوونې ١٩
د جنسي او جنسيتي تاوتريخوالی مستند کولو لارښوونې ١٩
د رواني ټولنيز ملاتړ منابع ٢٠
د پاليسی اړوند مهم سندونه ٢٠

## ۱. پېژندنه- دا لارښود د څه لپاره دی؟

د دې لارښود موخه د بشري حقونو د مستند کولو لپاره غوره کړنلارې رامنځته کول، د هغو جنسي او جنسیتي جرمونو مستند کولو په ګډون، چې کېدای شي په جنسیتي تعذیب پورې اړه ولري. په افغانستان او د دې هېواد په ډیاسپورا کې، ډېری مدني ټولنې او د بشري حقونو مدافعین په فعاله توګه د بشري حقونو سرغړونې مستند کوي. د دې لارښود موخه له هغو فعالانو سره مرسته کول دي، چې د عدالت غوښتنې موخو او د حساب ورکونې میکانیزمونو لپاره په لوړ کیفیت مستندونه ترتیبوي. په داسې حال کې، چې په دې لارښود کې د افغانستان اړوند اضافي سرچینو اومیکانیزمونو لپاره لینکونه او ماخذونه شامل دي، تر ټولو غوره کړنلارې، چې دا لارښود یې وړاندې کوي، د شخړو او تاوتریخوالي په هر ډول حالاتو کې د تطبیق وړ دی. لوستونکي به په دې لارښود کې د خوندیتوب او اعتباری لارو چارو، معیارونو او تګلارو بلد شي، ترڅو زیانمن شویو اشخاصو یا شاهدانو ته د بیا زیان رسېدو مخه ونیول شي. همدارنګه دا لارښود یوازې د اړینو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره لارښوونې وړاندې کوي، ترڅو زیانمن شویو وګړو او قربانیانو ته د متوجه خطرونو کچه راکمه کړي او ترڅنګ یې په راتلونکي کې احتمالي حقوقي قضیو کې عدالت ته د دوی د لاسرسي محدود نکړی. په دې لارښود کې جنسیت محوره او همدارنګه قرباني/ زیانمن شوي محوره کړنلارې شتون لري او د جنسیتي تعذیب د بشریت ضد جرم د پېژندلو څرنګوالي په اړه معلومات شامل دي.

## ۲. د بشري حقونو مستند کول څه ته وايي؟

مستند کول د سرغړونې د ثبتولو، یا د بشري حقونو د سرغړونو د «لنډ انځور» ترلاسه کولو پروسه ده. د بشري حقونو د غوره کیفیت مستند کولو لپاره دا ګټوره ده، ترڅو د پېښې د «څوک، څه، چېرته، کله او څنګه» او همدارنګه «ولې» په اړه معلومات ترلاسه کړئ. لکه څنګه چې په لاندې برخو کې یادونه کیږی، مستند کونکی باید یوائې هغه معلومات چه وروسته د حساب ورکولو پروسو کی خورا اړین دی راټول وکړی.

په مستند کولو کې یو شمېر کړنې شامل دي، چې له ځینو یې په لاندې ډول یادونه شوې ده:

- د دې معلومول، چې کومو معلوماتو ته اړتیا ده او د ترلاسه کولو لپاره یې دلایل رامنځته کول؛
- د مرکو او فعالو مشاهدو له لارې د معلوماتو راټولول؛ یا موجوده سندونو یا نورو اړوندو معلوماتو درلودونکو موادو راټولول؛
- د معلوماتو تنظیمول او ترتیبول، ترڅو د عدالت غوښتنې او حساب ورکونې میکانیزمونو لپاره ګټور تمام شي او په ورته وخت کې د محرمو معلوماتو خوندي ساتل؛ او
- د حساب ورکونې په میکانیزمونو، بشري حقونو څارونکو او نورو مدافعینو ته په خوندي توګه د سندونو وړاندې کول.

د مستند کولو په سرچینو کې یو شمېر فزیکي مواد او مرکې شامل دي.

لاندې کسان د مرکې کولو لپاره ښایي مناسب وي:

- زیانمن شوي وګړي/ قربانیان[1]
- عیني شاهدان
- خپلوان
- د کلي مشران
- وکیلان
- خبریالان
- طبي پرسونل
- د پولیسو غړي او رسمي کارکوونکي
- څارنوالان

اړوند مادي شواهد په لاندې ډول دي:

- د روغتون یا طب عدلي سوابق او ریکارډونه
- د محکمو سوابق
- د پولیسو راپورونه
- انځورونه او ویډیوګانې

په یاد ولرئ، چې اړوند موجوده مستندات هرې قضیې ته په پام سره توپیر کوي.

## د بشري حقونو مستند کولو اهمیت

مونږ غواړو د بشري حقونو د مدافعینو په توګه بشري حقونو ته وده ورکړو، د بشري حقونو سرغړونو قربانیانو لپاره عدالت تأمین کړو او په دې اړه پوه شو، چې د بشري حقونو ناوړه ګټې اخیستنې څنګه د ځورونه او تبعیض د لویو سیستمونو او شکلونو سره برابرې دي. د توکمیزو او مذهبي اقلیتونو، مېرمنو، +LGBTIQ[2]، معلولینو او د د تبعیض سره مخ ډلو غړو غبرونه زیاتره وخت په ټولنه کې چوپ شوي یا غندل شوي دي. په دې معنی، چې هغه تبعیض چې ډېری وختونه د جګړې او بریدونو لامل او سبب ګرځي، د انتقالي عدالت په پروسو کې له پامه غورځول کېږي. موږ د دغې بڼې بدلولو لپاره حقایقو ته اړتیا لرو. په ډیټابیسونو کې د حقونو سرغړونو معتبر اسناد راټولول د تبعیض او تاوتریخوالي نمونې په ګوته کولو کې مرسته کوي، په داسې حال کې، چې د ترمیماتو او پالیسی بدلونونو ته لاره جوړوي، چې کولای شي په ټولنو کې د ښې راتلونکې لپاره ګټور بدلون رامنځته کړي.

د عدالت غوښتنې په کمپاینونو کې د بشري حقونو د ارقامو وېشل کولای شي ښځو او محرومو ډلو سره عدالت ته په لاسرسي او د دوی په ټولنو کې د تاوتریخوالي دوام ته د پای ټکي په کېښودلو کې مرسته وکړي. همدارنګه مستند کول په هغه صورت کې اړین دي، چې یو شخص وغواړي د بشري حقونو سرغړونو لکه جنسیتي تاوتریخوالي مرتکبینو سره د حساب کولو په برخه کې له خپلو قانوني حقونو څخه برخمن شي. هغه کسان، چې د وسله والو جګړو یا ظلمونو لاندې ژوند کړی دی زیاتره وخت نشي کولای

---

١ دا روزنیز لارښود د «قرباني» اصطلاح کاروي چې د طرزالعمل او شواهدو اصولو په ۵۸(الف) اصل کې تعریف شوې ده، او څرګندوي چې هغه کسان چې جرمونه یا زیانونه تجربه کوي ممکن د «قرباني» یا «زیانمن شوي» اصطلاح سره بلدتیا ولري. د طرزالعمل او شواهدو اصول د نړیوالې جنايي محکمې د روم د اساسنامې د پلي کولو لپاره یوه وسیله ده.

٢ دا کلمه د لزبین، ګی، دوه جنسه، ترنسجندر، اینترسکس او کوئیر لپاره کارول کیږي. د جمعې علامه هغه خلک دي چې د LGBTIQ ټولنې سره شناخت لري، خو د ځان د پیژندنې لپاره نورې اصطلاح ګانې کاروي.

په دولت باندې تکیه وکړي، ترڅو د جرم په هکله بشپړې څېړنې وکړي. له همدې امله، د مدني ټولنې د سازمانونو لخوا راټول شوي مستندات د ارزښت وړ دي.

## ۳. د جنسيتي تعذيب مستند کول

### جنسيتي تاوتريخوالى څه ته وايي؟

جنسيتي تاوتريخوالى د تاوتريخوالي هغه ډول دى، چې له يو شخص سره د جنسيت پربنسټ کېږي. د بېلګې په توګه، يو مرتکب شخص ممکن په زور سره يو مېرمن واده کولو ته اړ کړي، ځکه هغه په دې باور دى، چې ښځې د واده کولو لپاره دي او قرباني بايد د خپل جنسيت د وجه نه په دې اړه هېڅ ونه وايي. همدارنګه د جنسيتي تاوتريخوالي مرتکبين کولای شي د تاوتريخوالي قربانيان د هغې کچې پر بنسټ په نښه کړي، چې فکر کېږي دوی د نارينه توب او ښځينه توب ټولنيزو تعريف شويو نورمونو ته غاړه کېږدي. د بېلګې په توګه، د جنسيتي تاوتريخوالي مرتکبين ښايي لزبين، ګې، دوه جنسه، ترنسجندر، بيناجنسي او يا کوير (LGBTIQ+)، اويا هم د ښځو پروړاندې د مرتکب د خوا د جنسيت پر اساس معين شوى جا مى نه رعايتولو او يا د سړيو او هلکانو پروړاندې د ړيرو نه درلودلو له امله د تاوتريخوالي مرتکب شي. جنسيتي تاوتريخوالى ډېرې بڼې لري او د يو شخص د ژوند په هر پړاو کې پېښېدای شي، چې فزيکي، جنسي او رواني ناوړه ګټه اخيستنه په کې شامل ده او په کور يا ټولنه کې واقع کېږي. جنسيتي تاوتريخوالى کولای شي د قربانيانو په فزيکي او دماغي روغتيا، زده کړو ته لاسرسي، نورو خلکو سره د ګډ ژوند وړتيا، دنده او اقتصادي هوساينه باندې منفي اغېزې کولای شي او کورنيو او ټولنو ته هم زيان رسوي.

په جنسيتي تاوتريخوالي کې لاندې موارد شامل دي:

- جنسي تاوتريخوالى، لکه زور او جبر او ګواښونه
- قتل او نور فزيکي تاوتريخوالى
- نه مراقبت
- د کورنۍ له غړو سره جنسي اړيکي
- اجباري واده او د کورني تاوتريخوالي نور ډولونه
- د پوخ عمر لرونکو کسانو ځورونه
- جنسي قاچاق او شاقه کارونه
- اقتصادي محروميت
- د زيږون تاوتريخوالى لکه، په زور سره امېندواري يا په زور سره د جنين سقط يا د حمل مخنيوى

### جنسيتي تعذيب څه ته وايي؟

جنسيتي تعذيب، چې د بشريت ضد جرم دى، يو ډول جنسيتي تاوتريخوالى دى، چې د جنګ جګړو يا ظلم له امله منځته راځي. د جنسيت پر اساس ځورونه په عمومي ډول جنسيتي تعذيب يادېږي - د لومړي ځل لپاره د ۱۹۹۸ کال د روم اساسنامې د معاهده په تړون کې ثبت شوى دى، چې پر بنسټ يې د جرمونو نړيواله محکمه جوړه او اداره کېږي. د نړيوال قانون له مخې، جنسيتي تعذيب هغه وخت پېښېږي، کله چې يو مرتکب د نړيوالې جنايي محکمې په قضايي حوزه کې د هر ډول جرم سره په مطابقت کې، يو قرباني شخص د جنسيت پر بنسټ د دوی له بنسټيزو بشري حقونو څخه محروم کړي، لکه قتل، جنسي تېرى، شکنجه او غير انساني کړنې او داسې نور... په جنسيتي تعذيب کې د څو بنسټيزو حقونو محروميتونه شامل دي. د بېلګې په توګه، يو مرتکب ښايي ښوونکي او زده کوونکي د دې لپاره ووژني، چې ښوونځيو ته د انجونو د تګ مخه ونيسي او په دې توګه دوی د زده کړو، ژوند او له تبعيض پرته ازادۍ له اساسي حقونو څخه يې محرومې کړي- دا هغه محروميتونه دي، چې د قتل جرم سره هم سره يو برابر دي. د جرم سره تړلې د ټولو بنسټيزو حقونو سرغړونو مستند کول او پېژندل کولای شي د جنسيتي تبعيض په افشا کولو کې مرسته وکړي، چې د انفرادي جرمونو او همدارنګه ټولو ظلمونواو جرمونه د هځول لامل کېږي. د جنسيتي تعذيب د جرم په اړه د نړيوالې جنايي محکمې د پاليسۍ د څار دفتر (دجنسيتي تعذيب پاليسي) د جنسيتي تعذيب په اړه د پوهېدو لپاره يوه ګټوره سرچينه ده.

جنسيتي تعذيب د اشخاصو پروړاندې د جنسي ځانګړتياوو او/ يا ټولنيزو جوړښتونو او معيارونو له امله ترسره کېږي، چې د نارينه توب او ښځينه توب لکه دندو، چلند، فعاليتونو او ځانګړتياوود تعريف کولو لپاره کارول کېږي. په جنسيتي تعذيب کې د يوې ډلې يا د يوې ډلې غړو پروړاندې تبعيض شامل دى، ځکه دوی د مرتکب شخص له نظرونو سره موافقت نه لري، چې څه شی «نارينه توب» يا «ښځينه توب» تشکيلوي يا جنسيت بايد څه ډول ځرګند شي. د بېلګې په توګه، مرتکبين ښايي د هغو کسانو پروړاندې تاوتريخوالى وکړي، چې دوی باور لري دجامی اچول د قوانين څخه سرغړونه کوي، چې مرتکبين يې د جنسيت پر اساس وضع کوي. جنسيتي تبعيض دومره عادي کېدای شي، چې مرتکب باور ونکړای شي، چې دوی تعصب يا يو اړخيز قضاوت ځرګندوي. د بېلګې په توګه، يو مرتکب ښايي په دې باور وي، چې د يوځانګړي توکم د ښځو او نجونو دنده غلامي او/ يا په زور واده کول دي، يا دا چې د نارينه او هلکانو دنده جګړه کول دي.

د روم د اساسنامې له مخې د بشريت پروړاندې د جرم په توګه ګڼلو په توګه بايد جنسيتي تعذيب شپږ عناصر پوره کړي (چې په لاندې ډول وړاندې شوي دي).

### د جنسيتي تعذيب قانوني عناصر

د بشريت ضد جرم په توګه د تعذيب جرمونه شپږ عناصر لري:

۱- مرتکب په جدي توګه د نړيوالو قوانينو خلاف، يو يا ډېر اشخاص له بنسټيزو حقونو څخه بې برخې کړې وي؛

۲- مرتکب يو شخص يا اشخاص د يوې ډلې يا ټولنې د هويت يا په ورته وخت کې يوه ډله يا ټولنه هدف ګرځولي وي؛

۳- دغه ډول هدف ګرځول د جنسيت پر بنسټ وي؛

٤- دا چلند د هر هغه عمل په تړاو ترسره شوى وي، چې د روم اساسنامې (د بشريت پروړاندې جرمونه) په ۷ ماده، ۱ پاراګراف کې ورته اشاره شوې وي يا هر هغه جرم چې د محکمې په قضايي حوزه کې واقع شوى وي؛

٥- دا چلند د ملکي وګړو پروړاندې ترسره شوي پراخ يا سيستماتيک بريد د يوې برخې په توګه مرتکب شوى وي؛ او

٦- مرتکب پوهېده، چې دا کړنه د يو پراخ يا سيستماتيک بريد يوه برخه وه، چې د ملکي وګړو پروړاندې ترسره کېږي، او يا داسې قصد ى درلوده. دا دوه عناصر د «چاپيو» عناصرو په نوم پېژندل شوي او د انسانيت پروړاندې د هر جرم لپاره اړين دي.



## جنسيتي جرايم او جنسيتي تعذيب څه ډول يو له بل سره تړلي دي؟

د جنسيتي تعذيب جرمونه د جنسيت پر بنسټ جرمونه دي، چې د بشريت پروړاندې د جرمونو تر کچې پورې رسېږي او حقوقي اجزاوې پوره کوي. د تعريف له مخې، دجنسيت پراساس جرمونه ښځې، نارينه، نجونې، هلکان او LGBTQI+ اشخاص[3] د جنسيت پر بنسټ په نښه کوي. جنسي تاوتريخوالی په مختلفو بڼو څرګندېږي لکه فزيکي تاوتريخوالی، رواني يا احساساتي تاوتريخوالی، ټولنيز- اقتصادي تاوتريخوالی، کورني تاوتريخوالی، او نورو زيان رسوونکو اعمالو لکه د مېرمنو سنت کول، ناموسي وژنو او جبري او کم عمره ودونو.

جنسيتي جرمونه د هغو کسانو پروړاندې د مجازاتو په توګه کارول کېدای شي، چې «د جنډر معيارونوڅخه سرغړونه ګڼل کېږي، چې د جنسيت څرګندونې (منل شوي) ډولونه تعريفوي، لکه، دندې، چلند، فعاليتونه، يا ځانګړتياوې.»[4] دا رواېتونه زياتره د ژوند هر اړخ تنظيموي، د افرادو د فعاليت د ازادۍ کچه، د دوی د زېږون اختيارونه، له چا سره چې وغواړي ورسره واده کول، په کوم صورت کې او چېرته زده کړې او/ يا کار وکړي، څه ډول جامې اغوستلی شي او ايا دوی د بقا حق لري.

جنسيتي جرمونه ځينې وختونه په خپل ځان کې هغه کړنې دي، چې مرتکبين د جنسيت پر بنسټ، لکه د جنسي غلامۍ په حالت کې خلک ته ټاکي. د جنسيتي تعذيب پاليسي ځينې اضافي بېلګې وړاندې کوي: "سړي او هلکان جنګ ته اړ ايستل کېدای شي. ښځې او انجونې د دوی د جنسيتي دندو په برخو کې د دغو فعاليتونو ترسره کولو پر بنسټ د کورني کار کولو لکه پخلي، د جامو مينځلو يا د ناروغانو درملنې ته اړ ايستل کېدای شي.[5] "(په ياد ولرئ، چې هلکان ممکن د غلامۍ تابع شي او انجونې هم جنګ ته اړ ايستل شي لکه د ځان وژونکی په توګه له دوی څخه کار اخيستل. دا کړنې کېدای شي د جنسيتي تعذيب لامل شي).

## د جنسي تاوتريخوالي جرمونه او جنسيتي تعذيب سره څنګه اړيکه لري؟

د روغتيا نړيوال سازمان جنسي تاوتريخوالی په لاندې ډول تعريفوي:

«هر ډول جنسي عمل، د جنسي عمل د ترسره کولو هڅه، ناغوښتلی جنسي تبصرې يا خبرې، يا قاچاق يا بل ډول د شخص د جنسي تمايل پروړاندې د زور او جبر په کارولو سره ترسره کول، د هر شخص لخوا پرته له دې چې د قرباني سره کومې اړيکې لری او که نه، په شمول مګر په کور او کارمحيط پورې محدود ندي.»[6]

٣ په داسې حال کې چې د LGBTIQ+ لنډيز کې په پراخه کچه خلک شامل دی خو لاهم بشپړ ندی، او نه دا په نړيواله کچه معياري لنډيز دی. په ياد ولرئ پداسې حال کې چې LGBTIQ+ کسان کولای شي د ښځو، نجونو، نارينه وو او هلکانو ګروپونو پورېتړاو ولري، دوی د LGBTIQ+ ګروپونو پورېتړاو درلودلو له امله په نښه کيدای شي. د جنسيتي ځورونې د جرم په اړه د نړيوالې جنايي محکمې د څار دفتر پاليسي، (٧ دسمبر ٢٠٢٢)، ١٢نوټ، https://www.icc-cpi.int/sites/default/files/2022-12/2022-12-07-Policy-on-the-Crime-of-Gender-Persecution.pdf

٤ د جنسيتي تعذيب د جرم په اړه د نړيوالې جنايي محکمې د څار دفتر پاليسي، (٧ دسمبر ٢٢٠٢)، ۴ مخ، https://www.icc-cpi.int/sites/default/files/2022-12/2022-12-07-Policy-on-the-Crime-of-Gender-Persecution.pdf

٥ Id., para. 91(ii)

٦ د روغتيا نړيوال سازمان، د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالي په اړه پوهيدل او ورته رسيدنه کول، (٢٠١٢)، https://apps.who.int/iris/bitstream/handle/10665/77434/WHO_RHR_12.37_eng.pdf

د جنسي تاوتريخوالی او د جنسيتي تاوتريخوالی ترمنځ يو لوی انډول شتون لري. نږدې ټول جنسي تاوتريخوالي هم د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالی تشکيلوي او کېدای شي د شخړو او د ظلم په شرايطو کې تر جنسيتي تعذيب پورې ورسېږي. له بلې خوا، د جنسيتي تاوتريخوالي ځينې داسې ډولونه شته، چې جنسي تاوتريخوالی نه تشکيلوي او کېدای شي تر جنسيتي تعذيب پورې ورسېږي.

لکه د نوروبنسټيز جرمونه چې د جنسيتی تعذيب تر عنوان ترسره کيږی، د جنسی تاوتريخوالی جرمونه ناګزير يا تصادفی نه دی - دوی د جنسيت تبعيض پورې اړه لري. د جنسيت تبعيضي ککړ روايتونو په تاريخي ډول جنسي تاوتريخوالی د يو نورمال «جګړې پايلې» په توګه معقول بللی دی - په اصل کې د ساعت تيری يا سرتېرو لپاره د انعام په توګه يې بولي. دا ډول جوړښت د جنسي تاوتريخوالی شدت خورا کم ښايي او جنسي تيري يې د جګړې د حتمي محصول په توګه انځور کړی، د دې پرځای، چې د يو داسې عمل په توګه وي، چې ښايي تر جنسي تعذيب پورې ورسېږي.[7] کله چې د جنسيتي تعذيب لید په کارولو سره د جنسي تاوتريخوالي کړنې تحليل شي، د جنسي تاوتريخوالي تبعيضي ماهيت روښانه کېږي او موږ کولای شو په ښه توګه پوه شو، چې څنګه د تاوتريخوالي دورانونه له منځه يوسو.

## ولې د جنسيتي تعذيب مستند کول مهم دي؟

د جنسيتي تعذيب مستند کول د جګړې يا ظلم بشپړې کيسې بيانولو کې مرسته کوي او د حساب ورکونې د ترسره کولو په لاره کې لومړی ګام دی. د جنسيتي تعذيب لپاره د عاملينو يا مرتکبينو حساب ورکونه ښيي، چې د جنسيت پر بنسټ د يو ځا په ښه کول د انسانيت پروړاندې جرم ګڼل کېدای شي. دا کولای شي د اوږدمهاله تاريخي تبعيض او د بنسټيزو حقونو محروميتونو راڅرګندولو کې هم مرسته وکړي، چې په ځانګړې توګه زيان منونکو ګروپونو لکه؛ ښځې، نجونې او LGBTQI+ اشخاصو باندې اغېزه کوي.

د جنسيتي تعذيب جرمونو پېژندل نه يوازې د زيانمن شوي شخص ګډون هڅوي؛ دا د نړيوالو او ځايي ټولنو لپاره يوه لاره هم وړاندې کوي، څو د زيانمنو شويو کسانو، د هغوی د کورنيو او د هغو ټولنو ترڅنګ ودرېږي، چې د عدالت مستحق دي. دا درک کولای شي مرتکبينو ته روښانه کړي، چې دا د نړيوالي اندېښنې وړ جرمونه دي، چې هيڅ معافيت نه لري، په داسې حال کې چې د يوې تلپاتې سولې په پلی کيدو کې مرسته کوي.

د جنسيتي تعذيب قوي مستند کولو په مرسته موږ کولای شو دا وښيو، چې نه يوازې دا چې جرم واقع شوی دی، بلکې دا واضح کوو، چې ولې يو شخص د دې جرم مرتکب شوی دی. همدارنګه د جنسيتي تعذيب په پېژندلو سره موږ کولای شو هغو کړو وړو ته بدلون ورکړو، چې د دغه ډول تاوتريخوالي د راپورته کېدو لامل کېږي او د قربانيانو معنی داره درملنه او د خساره جبران وکړو. د دغه ډول جرمونو مستند کول د ظالمانه جنسيتي تبعيض روايتونو په لمنځه وړلو او تلپاتې سولې راوستلو کې مرسته کوي.

د جنسيتي تعذيب مستند کول د جنسيت پر بنسټ د جرمونو په روښانه کولو کې هم مرسته کوي، چې ممکن پټ يا له پامه غورځول شوي وي. دا د تبعيض د متقابلو ډولونو پېژندل هم هڅوی، چې د جنسيتي تبعيض او تاوتريخوالی سره يوځای واقع کېدای شي. لکه څرنګه چې د جنسيتي تعذيب جرم په پاليسی کې په صراحت سره ذکر شوي دي، چې: «د جنسيتي تعذيب پېژندل نه يوازې د تبعيض ارادې په راڅرګندولو کې مرسته کوي، چې کولای شي دا ډول جرمونه يا لويې شخړې رامنځته کړي او همدارنګه کولای شي د هغو قربانيانو په اړه هم رڼا واچوي، چې د تبعيض د ډېری او متقابل ډولونو له امله زيانمنونکي دي.»[8]

## د جنسيتي تعذيب بېلګې

جنسيتي تعذيب کېدای شي په بېلابېلو لارو ترسره شي، چې په کې د هغو قربانيانو لپاره جزاوې شاملې دي، چې د جنسيتي تعذيب د عاملينو پروړاندې وضع شويو مقرراتو څخه سرغړونه کوي. د بېلګې په توګه، د جنسي ځورونې احتمالي جرمونو مستند شويو قضيو کې د «ښځينه وو» په توګه ټلند کولو سره د نارينه وو يا د «نارينه وو» په توګه د ښځو يا د عاملينو لخوا وضع شويو تبعيضي جنسيتي مقرراتو پر بنسټ د جامې اغوستلو د اجباري مقرراتو يا کارونو څخه د محرومولو لپاره د خلکو وژنه، جنسي تېری، يا شکنجه کول شامل دي. لاندې بېلګو ته پام وکړئ:

۱- پر يوې مېرمنې له دې امله جنسي تېری کېږي يا وژل کېږي، چې دنده ترسره کوي او دا چې کار کول د ښځو لپاره مناسب نه ګڼل کېږي.

۲- پر يوې مېرمنې له دې امله جنسي تېری کېږي يا شکنجه کېږي، چې لمنه يې ډېره لنډه ده يا د سر لوپټه يې نری ګڼل کيږی.

۳- امېندواره مېرمنې له دې امله اجباري زيان کولو ته اړ کېږي، چې اميندواري د سړيو جنسي خواهش پوره کولو کې ستونزه جوړوي.

٤- له سړيو څخه د ږيرو نه پرېښودلو يا ږيرې خرېلو له امله ځورول کېږي.

٥- پر تور پوستو افريقايي مېرمنو باندې له دې امله جنسي تېری کېږي، چې د عاملينو په فکر دوی په طبيعي ډول جنسي اړيکې خوښوي.

٦- سړي او ښځې د يو بل سره د جنسی اړيکی درلېدل په شک  اعدام کيږی،

٧- ځوانان له دې امله وژل کېږي، چې په باور يې دوی «تيريدونکی»دی او د غچ اخيستلو هڅه کوي.

٨- جنسي تېری په توقيف خونو کې ساتل کېدونکو مېرمنو پروړاندې جنسيتي وضع شوی بنديز دی، خو په اجباري توګه ودونو ته اړ کېږي.

٩- هلکان د بوکسينک په رينګ کې يو بل سره مقابلې ته اړ کېږي، ترڅو خپل نارينتوب ثابت کړي.

١٠- ښځې او سړي په دوو جلا ډلو وېشل کېږي. ښځې د وينځو په توګه نيول کېږي او سړي وژل کېږي.

٧ MADRE او UN Women ، په جنګ جګړو او ظلمونو کې جنسيتي تعذيب پيژندل: د بشريت ضد جرمونو د مستند کوونکو، څېړونکو او قضاوت کوونکو لپاره يوه معلوماتي ټولګه، (٢٠٢١)، مخ ١٤، https://www.unwomen.org/en/digital-library/publications/2022/01/identifying-gender-persecution-in-conflict-and-atrocities.

٨ د جنسيتي تعذيب د جرم په اړه د نړيوالې جنايي محکمې د څار دفتر پاليسي، (٧ دسمبر ٢٠٢٢)، مخ. https://www.icc-cpi.int/sites/default/files/2022-12/2022-12-07-Policy-on-the-Crime-of-Gender-Persecution.pdf

## ٤. د بشري حقونو مستند کولو لپاره مهم اصول

### د زیان نه رسول کړنلاره (Do No Harm)

«د زیان نه رسول» د هر ډول اسنادو د پروسې په مرکز کې یو کلیدي اخلاقي اصل دی، په ځانګړې توګه هر هغه اسناد، چې د قربانیانو، زیانمنو شویو او د جرمونو یا د بشري حقونو سرغړونو شاهدانو سره مرکې په کې شامل وي. دا کړنلاره د مرکه کوونکو اړتیاوو او خوندیتوب ته لومړیتوب ورکوي او د دوی خپلواکي ته درناوی کول دی. د زیان نه رسول طریقې ترسره کولو کې لاندې موارد رانغاړي:

- په قربانیانو، زیانمنو شویو، شاهدانو او همدارنګه په ټوله ټولنه باندې د احتمالي منفي اغېزو په اړه پوهه درلودل؛
- د احتمالي منفي اغېزو لپاره چمتو اوسېدل؛
- د دغو پایلو او د هغو اړوندو زیانونو د مخنیوي یا راکمولو لپاره اقدامات ترسره کول؛
- د منفي اغېزو راکمولو وړتیا نه درلودلو په صورت کې د مستند کولو بندول او ودرول.

په هغه صورت کې چې کله د مستند کولو هڅې د زیان لامل کېدای شي، ځینې مهم شیان، چې په اړه یې فکر وشي په لاندې ډول دي:

- معلومات به څه ډول کارول کېږي
- څوک به یې ګوري
- کله او څه ډول به د معلوماتو راپور ورکول کېږي
- د کومې موخې لپاره به یې راپور ورکول کېږي
- په راپور کې وړاندې کېدونکیو معلوماتو څخه به څوک ګټه اخلي

### محرمیــت

محرمیت د زیان نه رسولو کړنلارې یوه مهمه برخه ده او له مستند کوونکو غواړي، ترڅو د مرکه کوونکو څخه ترلاسه شوي معلومات، په ځانګړې توګه د قربانیانو، زیانمنو شویو او شاهدانو د پېژندنې معلومات خوندي وکړي. محرمیت نه یوازې د مستند کولو د پروسې په جریان کې هرڅوک خوندي ساتي، بلکې کولای شي د قربانیانو، شاهدانو او زیانمن شویو سره د باور رامنځته کولو کې مرسته وکړي او د مستند کوونکي او مرکه کوونکي ترمنځ اړیکه پیاوړې کړي. مستند کوونکي سازمانونه باید داسې طرزالعملونه جوړ کړي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې ګډون کوونکي ټل د محرمیت اصول رعایتوي. دوی باید په مکرر ډول د دوی د پروسو بیا کتنه وکړي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې ټول ښکېل کسان د محرمو معلوماتو اداره کولو لپاره ښه سمبال دي.

د مستند کولو ټیمونه باید لاندې کړنې ترسره کړي:

- د محرمیت ساتنې واضح کړنلارې جوړې کړي او ځان ډاډمن کړي، چې ټولو مستند کوونکو ته په خوندي ډول د معلوماتو راټولولو، زېرمه کولو او لاسرسي په اړه روزنه ورکړل شوې ده؛
- د ټولو هویتي او شخصي معلوماتو لکه د مستعارو نومونو او شخصي معلوماتو ته د کوډ ورکولو سیستمونو لپاره د معلوماتو د خوندي ساتنې کړنلارې جوړې او تطبیق کړي؛
- ځان ډاډمن کړي، چې د مرستندویه خدمتونو لپاره د خلکو ټولې مراجعې د محرمیت ساتنې کړنلارو مطابق دي؛ او
- مرکه کېدونکو ته دا کړنلارې په واضح ډول تشریح کړي او د مستند کولو مخکې د دوی رضایت ترلاسه کړي. د مرکه کېدونکو سره د اړیکې نیولو لپاره کړنلارې ترتیب کړي او ډاډ ورکړي، چې د دوی په کورونو او ټولنو کې د دوی محرمیت ساتل شوی دی.

د ټولو مرکه کېدونکو د محرمیت ساتلو لپاره، دا مهمه ده، چې معلومات په خوندي ځای کې ذخیره کړئ او ډاډ ترلاسه کړئ، چې یوازې اجازه لرونکي کارکوونکي کولای شي ورته لاسرسی ومومي. معلومات باید په چا پ شوی کاپي شکل کې ونه ساتل شي او هر څه باید په کمپیوټر کې د پټ نوم یا پاسورډ په وسیله خوندي وي. په ګرځنده ټیلیفونونو کې هېڅ معلومات مه ذخیره کوئ.

په عامو اسنادو کې د زیانمنو شوو او شاهدانو د هویت پټ او خوندي ساتل خورا مهم دي او د هغوی معلومات باید په خصوصي شکل وساتل شی. باید ډېره پاملرنه وشي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې د اشخاصو د هویت اړوند معلومات، لکه د قرباني یا شاهد نوم، پته، یا د فزیکي ځانګړتیاوو پېژندل، په عامو اسنادو کې خپاره شوي نه دي. په یاد ولرئ، چې د معلوماتو پېژندل، چې باید خوندي شي ممکن د بشري حقونو سرغړونو یا نورو پېښو په اړه ځانګړي جزئیات هم ولري، چې یو مشخص فرد ته اشاره کوي. د بېلګې په توګه، که چېرې هغه کلی، چې سرغړونه پکې شوې وي کوچنی وي، عامو خلکو ته د کلي نوم اخیستل ښایي د سرچینې هویت څرګند کړي.

مستند کوونکي باید قربانیانو او شاهدانو ته د معلوماتو د ډولونو په اړه خبر ورکړي، چې ښایي په عامه اسنادو کې شریک شي او دوی ته خبر ورکړي، چې د هویت اړوند شخصي معلومات به یې محرم وساتي. د محاکمې یا قضایی تحقیقاتو په صورت کې، قربانیان ښایي د غرامت او جبران د ترلاسه کولو لپاره یو قضایی ارګان یا محکمې ته ځان وپېژني. مستند کوونکي باید میکانیزمونه جوړ کړي، ترڅو په هغه حالت کې، چې دوی قرباني ته د رسېدو اړتیا ولري، د اړیکو معلومات په خوندي ډول د حقونو سرغړونو یا جرمونو اسنادو څخه جلا ذخیره کړي.

### آګاهانه رضایت

د مرکو، انځورونو، ویډیوګانو یا اسنادو لپاره رضایت ترلاسه کول د مستند کولو په پروسه کې یو مهم ګام دی.

د رضایت په ترلاسه کولو کې مستند کوونکی اړ دی، څو د مستند کولو د ماهیت او هدف، محرمیت ساتنې د څرنګوالي، د ترلاسه شویو معلوماتو احتمالي کارولو او د معلوماتو شریکولو احتمالي پایلو او د احتمالي امنیتي خطرونو په اړه بشپړ معلومات چمتو کړي. رضایت باید داوطلبانه وي او په غیر جبري چاپېریال کې ترلاسه شي. رضایت هم باید څرګند او صریح وي؛ یعني مستند کوونکي باید د امکان په صورت کې د مستند کولو شرایطو (د فعالیت ماهیت او هدف، د هغې کارول او اړوند خطرونه، د محرمیت ساتلو لپاره اقدامات، او داوطلبانه ګډون) ته د شخص د موافقې لیکلی لاسلیک یا انځوریز/ غږیز ریکارډ ترلاسه کړي.

دا هم مهمه ده، چې د بشري حقونو د سرغړونو په ځواب کې د عدالت یا نورو خدمتونو د احتمالي امکاناتو په اړه هېڅ ډول غیر حقیقتي ژمنې یا تضمین ونه کړئ.

یادونه: د نړیوالې جنايي محکمې د څار دفتر او د مدنې ټولنو لپاره د مستند کولو په اړه د یورو جسټ لارښوونې د رضایت ترلاسه کولو فورمې یوه ترتیب شوې نمونه وړاندې کوي (په نهمه برخه کې سرچینو ته وګورئ).



## د زیان منونکو وګړو لکه د جنسي او جنسيتي تاوتريخوالي قربانيانو سره مرکې کول

د زيان منونکو وګړو لکه د جنسي او جنسيتي تاوتريخوالي قربانيانو سره مرکې کولو لپاره ځانګړي احتياط ته اړتيا ده، چې مستند کوونکي پرې باید پوه وي. د نړيوالې جنايي محکمې د څار دفتر او د يورو جسټ د مستند کولو په اړه لارښوونو پر بنسټ، په زيان منونکو اشخاصو کې لاندې کسان شامل دي:

- "له ۱۸ کلنۍ کم عمره ماشومان؛
- بوډاګان؛
- د جنسي او جنسيتي جرايمو قربانيان؛
- د شکنجې او تاوتريخوالي د نورو جرايمو قربانيان؛
- معلولين يا د رواني صدمې يا زيان نښو درلودونکي کسان؛ او
- توقيف شوي کسان."

مستند کوونکي باید د زیان منونکو خلکو سره مرکه کولو کې د قرباني او ژوندي پاتې شوو يا زيانمنو شويو باندې متمرکز چلند غوره کړي. دا په دې معنی ده، چې د مستند کولو فعاليت بايد يوازې هغه وخت ترسره شي، چې دا د زيان منونکي شخص په ګټه وي او هغه په بشپړ ډول خبر وي او د خپلې ښکېلتيا اغېزې درک کړي. مستند کوونکي بايد د دې حقیقت څخه خبر وي، چې زيان منونکي اشخاص د رواني ټولنيز زيان لوړ خطر سره مخ کېږي لکه، د مستند کولو په فعاليتونو کې د ګډون پرمهال بیا ځل صدمه لېدل.

د يو عمومي اصل په توګه، متخصصين د زيان منې د ارزونې په ترسره کولو سره د مستند کولو په پروسه کې د دوی له ګډون مخکې د زيان منونکو اشخاصو د عمومي فزيکي او رواني روغتيا د ارزولو وړانديز کوي.[9] سربېره پر دې، دا سپارښتنه کېږي، چې د زيان منونکي شخص سره د لږ تر لږه ممکنه حقونو د سرغړونو د مستند کولو په موخه ګډ کار وکړئ.

۹ د زيان منې د ارزونو او د مستند کولو لپاره د زيان منونکي شخص سره ګډ کار کولو په هکله د لا زياتو معلوماتو لپاره: د جرمونو نړيوالې محکمې د څار دفتر او د حساب ورکونې لپاره د يورو جسټ د نړيوالو جرايمو او بشري حقونو سرغړونو مستند کول: د مدني ټولنو لپاره لارښوونې، ۴ برخه، مخونه ۱۳-۱۵ (۲.۲۲)، https://www.eurojust.europa.eu/sites/default/files/assets/eurojust-icc-csos-guidelines.pdf

د جنسي او جنسيتي تاوتريخوالي قربانيان او زيانمن شوي کېدای شي مېرمنې، ماشومان او سړي وي. سره له دې، چې دا ډول تاوتريخوالی په هر قرباني/ زيانمن شوي باندې په جلا توګه اغېزه کولای شي، په عمومي اغېزو کې يې فزيکي او دماغي ټپونه لکه شاک، پرېشاني او له فزيکي صدمې وروسته فشار او بې نظمي دی. برسېره پر دې، د جنسي او جنسيتي تاوتريخوالي زيانمن شوي زياتره وخت له ټولنيزو پېغورونو رنځ وړي او له خاص امنيتي خطرونو سره مخ وي، چې دا ټول عوامل کولای شي د زيانمنو شويو غږونه چوپ کړي او د خپلو تجربو په اړه خبرو کولو مخه يې ونيسي.

د مرکې لپاره د جنسي او جنسيتي تاوتريخوالي زيانمنو شويو خوا ته د ورتګ پرمهال د مرکو د عمومي اصولو د رعايتولو ترڅنګ مرکه کوونکي بايد لاندې ټکي په پام کې ونيسي:[10]

۱- د مرکه کېدونکي سره خواخوږي ښکاره کړئ او حالت يې درک کړئ او د مرکې په اړه تصميمونو کې مرکه کېدونکي ته اختيار ورکړئ (چې مرکه به چېرته ترسره کېږي، څومره وخت به نيسي او داسې نور...) او د دوی د همکارۍ او نظرونو درناوی وکړئ؛

۲- په ياد ولرئ، چې د مدني ټولنو مستند کوونکي بايد د بشري حقونو سرغړونو لکه جنسي او جنسيتي تاوتريخوالي په اړه بشپړ معلوماتو راټولولو څخه ډډه وکړئ (شپږمه برخه وګورئ). د جنسي او جنسيتي تاوتريخوالي قربانيانو او زيانمنو شويو څخه د مرکې پرمهال يوازې د لومړنيو عمومي معلوماتو راټولو نه يوازې دا چې د حساب ورکونې په وروستيو ميکانيزمونو کې د قرباني ګواهۍ د موجوديت او ساتنې له کبله مهمه ده؛ بلکې دوی ته د نورو فزيکي زيانونو رسېدو په مخنيوي کې هم مرسته کوي. له ټولو مرکه کېدونکو څخه تشريحي پوښتنې وکړئ، ترڅو وکولای شي په ښه او آرامه توګه هغه څه، چې غواړي شريک يې کړي؛

۳- په مرکو کې چټکې او زياتې پوښتنې مه کوئ، ترڅو مرکه کېدونکی د بيا ځل قرباني کېدو يا ناوړه ګټې اخيستنې احساس ونه کړي؛

٤- لکه څرنګه چې په مرکو کې له قربانيانو او د پېښې له شاهدانو څخه د ټولو زيان رسوونکو پېښو د بيا تکرار غوښتنه کېږي، دا کېدای شي د دوی لپاره د خپګان يا بيا زيان رسېدو وړ وي، خو که مرکه په سمه توګه ترسره شي، دا وړتيا لري، چې قربانيان او د پېښې شاهدان په پروسه کې ښکيل کړي او پياوړي وساتي او دوی ته د کنټرول او اېجنسۍ حس ورکړي. دا په دې معنی چې مرکه کوونکی بايد ډاډ ورکړي، چې دوی د محرميت ساتنې ميکانيزمونه په پام کې نيولي او رعايت کړي، د مرکه کېدونکي رضايت يې ترلاسه کړی، مرکه کېدونکو ته په سمه توګه غوږ نيسي او دوی ته د دمې او احساساتو څرګندولو لپاره وخت ورکوي؛

٥- په نرمښت، زغم او درناوي سره چلند وکړئ. مرکه کېدونکی به په هغه صورت کې معلوماتو شريکولو ته زړه ښه نه کړي، چې دوی مرکه کوونکی، ژباړن يا د ټيم نور غړي خوښ نه وي يا ورباندې باور نه لري.

۱۰ د لا زياتو معلوماتو لپاره د موراد قانون ته مراجعه وکړئ، https://www.muradcode.com/murad-code; او د حقونو د سرغړونو او جرمونو لکه جنسي او جنسيتي تاوتريخوالی د مستند کولو په اړه د نړيوالو جنايي څېړنو انستيټوټ د ماخذ پاڼې ته مراجعه وکړئ، https://iici.global/publications/.

## ۵- په مستند کولو کې د خوندیتوب او امنیت اقدامات

د بشري حقونو سرغړونې، د جنسیتي تاوتریخوالي په ګډون په بېلابېلو لارو چارو کې مستند کېدای شي. مستند کوونکي کولای شي د پېښو په اړه لومړی لاس معلومات لکه، د یوې پېښې یا سرغړونې کړنې په اړه د دوی مشاهدې راټول او ترتیب کړي. همدارنګه مستند کوونکي په عمومي توګه کولای شي د زیانمنو شویو، عیني شاهدانو یا نویو معلوماتي سرچینو لخوا خپاره شوي او شریک شوي معلومات د ټولنیزو رسنیو د پوستونو او انلاین سرچینو له لارې راټول کړي. په ورته وخت کې مستند کوونکي کولای شي د پېښو قربانیانو او شاهدانو سره د مرکې له لارې او د نورو اشخاصو د لومړنیو تجربو څخه مستند معلومات ترلاسه کړي.

د مستند کوونکو، زیانمنو شویو او شاهدانو خوندیتوب د هر ډول بشري حقونو د مستند کولو فعالیت او هڅو په برخه کې خورا ډېر اهمیت لري او باید د هر ډول مستند کولو مخکې د خوندیتابه او امنیت اړوند اندېښنو د ارزولو او راکمولو لپاره اقدامات ترسره شي. مستند کوونکو تر ټولو مهم مسوولیت دا دی، چې باید د دوی او همدارنګه د زیانمنو شویو او عیني شاهدانو او د دوی د استوګنې په ټولنو کې د دوی پروړاندې راولاړېدونکو خطرونو په اړه خبر او پوهاوی ولري. د خوندیتابه او امنیتي مدیریت لپاره یوه جامع طریقه باید لاندې موارد په پام کې ونیسي:

- فزیکي امنیت: د بدني خوندیتوب، مستند کولو، دفترونو، موادو، نقلیه وسایطو، کورونو او داسې نورو شیانو خوندي ساتل.
- رواني ټولنیزه روغتیا او خوندیتوب: د رواني روغتیا خوندي ساتل.
- ډیجیټلي امنیت: د ډیجیټلي معلوماتو، شخصي اړیکو او وسایلو خوندي ساتل.

## په خوندي توګه د معلوماتو زېرمه کول

د قربانیانو، زیانمنو شویو، شاهدانو او نورو هغو کسانو په اړه معلومات، چې د مستند کولو هڅو ملاتړ کوي او همدارنګه هغه د مرکو پرمهال ترلاسه شوي معلومات یا له ټولنیزو رسنیو ترلاسه شوي معلومات باید خوندي وساتل شي. هغه معلومات، چې خوندي نه وي کېدای شي د محرمیت ساتنې څخه د سرغړونې لامل شي او کولای شي مستند کوونکي، زیانمن شوي، قربانیان او شاهدان په خطر کې واچوي او د دغه ډول پېښو د مستند کولو موخې له خطر سره مخامخ کړي.

معلوماتو ته متوجه خطرونو کې لاندې توکی شامل دي:

- د ډیجیټلي او کاغذي فایلونو غلا
- د معلوماتو ورکېدل یا خرابېدل
- د معلوماتو بدلېدل او تغیر
- د ډیجیټلي معلوماتو هېک کېدل

د امنیت متخصصین سپارښتنه کوي، چې مستند کوونکو ته په کار ده څو د لېږدول کېدونکو او زېرمه شویو معلوماتو لپاره د خوندیتابه پلانونه جوړ کړي. په لېږدول کېدونکو معلوماتو کې هغه معلومات شامل دي، چې د ټیلیفون یا ویډیویي زنګ، برېښنالیک، لیکلي پیغام یا د اړیکو د نورو ډیجیټلي مېتودونو له لارې شریکېږي، خو په زېرمه شویو معلوماتو کې بیا ډیجیټلي فایلونه، په مېز یا الماری کې کاغذي فایلونه، د قربانیانو، زیانمنو شویو، شاهدانو او د مستند کولو هڅو ملاتړ کوونکو نورو کسانو په اړه چاپ شوي جزئیات او د ډیجیټلي معلوماتو چاپ شوې پاڼې لکه کمپیوټري جدولونه او داسې نور شامل دي.

د معلوماتو د خوندي ساتلو لپاره ځینې مهم ګامونه په لاندې ډول دي:

- د حساسو او محرمو معلوماتو، ډېټا شریکولو، ډېټا زېرمه کولو، د ټولنیزو رسنیو استعمال او معلوماتو لېږدولو په اړه د معلوماتو د امنیت پالیسیو جوړول. د مستند کولو دغو پالیسیو لپاره اړین موارد په لاندې ډول وړاندې کېږي:
  - د مرکه کېدونکي شخص د هویت او محرمیت پټ ساتلو لپاره د کوډ ورکولو سیستم کارول؛
  - محرمو معلوماتو ته د لاسرسي درلودونکو اشخاصو د شمېر محدودول؛
  - د یو داسې هارډ ډرایف کارول، چې د اور ضد خوندي یا هغه کمپیوټر کې زېرمه کېږي، چې د محرمو معلوماتو د زېرمه کولو لپاره له هېڅ ډول سرور سره وصل نه وي (د بېلګې په توګه، ځینې سازمانونه د اړیکو معلومات په جلا توګه په ډرایف کې زېرمه کوي، چې د هغو پېښو او جرمونو د جزئیاتو څخه چې دوی یې شاهد دي، جلا او لرې وي)؛
  - د پټ نوم (پاسورډ) په وسیله خوندي شویو فولډرونو او کوډ لرونکو ډرایفونو کارول؛
  - عامه ځایونو لکه نقلیه وسایطو، رسټورانټونو، هوټلونو یا کور کې د محرمو اسنادو یا برېښنایي وسایلو هېڅکله بی توجه نه پرېښودل؛
  - په ځینو حالاتو لکه له سرحدي پولو یا پلټنې محلونو څخه د تېرېدو پرمهال د محرمو معلوماتو او په ځانګړې توګه د هغو معلوماتوله لېږدولو ډډه کول، چې د مرکه کېدونکو یا شاهدانو د هویت پېژندنې لامل کېږي.
- د لوړ معیار کوډ ورکول کېدونکو الکترونیکي سیستمونو پر کارولو غوره کول، خو په یاد ولرئ، چې کوډ ورکول زیاتره وخت د ملي قانون سره سم تنظیمېږي او شاید په ځینو هېوادونو کې حتی غیر قانوني وي، نو د دې لپاره اړینه ده، څو د امنیت له یو ځایي متخصص سره مشوره وکړئ، ترڅو وګورئ، چې ستاسو په سیمه او هېواد کې کوم شیان جواز لري.
- د ډیجیټلي ډېټا لپاره د کوډ ورکولو (encryption) ټکنالوژیو کارول په پام کې ونیسئ. د دې ترڅنګ، د انټي ویروس نوی سافټویر وکاروئ، ټولو ډیجیټل وسایلو او محرمو فولډرونو ته پیاوړي پاسورډ ورکړئ، په یو لرې سرور کې دوامداره او منظم بک آپ واخلئ او د اړتیا په صورت کې هارډ ډرایف لرې کړئ.
- د یو سازمان په ویبپاڼه یا د ټولنیزو رسنیو (فېسبوک، ټویټر او داسې نورو) له لارې د انلاین لیکل شویو او پوسټ شویو موادو لپاره د تائید کړنلارې جوړول، ترڅو ډاډ رامنځته شي، چې محرم معلومات په احتیاط سره تنظیم او ترتیب شوي دي. دا کار له تاسو سره مرسته کولای شي، څو په تېروتنې سره د یو داسې سند یا انځور پوسټ کولو مخه ونیسئ، چې د قرباني/ شاهد هویت او د نوموړي د اوسېدو ځای، د مرکو موقعیت، کار ځایونه او ورته موارد په ډاګه کوي.

## د قربانیانو، زیانمنو او شاهدانو خوندیتوب او امنیت

قربانیان، زیانمن شوي وګړي او شاهدان د دوی د روغتیا او هوساینې په تړاو له بېلابېلو خطرونو سره مخ کېږي. د پېښو مستند کولو پروسه کې ګډون کول دوی ته د زیان رسېدو د خطر په بیه تمامېږي، نو په کار ده، چې مستند کوونکي د عامو خطرونو څخه خبر وي، ترڅو دوی وکولای شي د مستند کولو پروسه کې له ګډون کولو مخکې قربانیان، زیانمن شوي کسان او شاهدان ترې خبر کړي او د یادو خطرونو د مخنیوي او راکمولو لپاره تګلارې جوړې کړي. قربانیانو، زیانمن شویو وګړو او شاهدانو سره باید د مستند کولو پروسې په هر پړاو کې مشوره وشي.

ځيني عام خطرونه په لاندې ډول دي:

- بیا زیان لیدل او اضافی عاطفي زیان
- د جرم د مرتکبینو یا دوی پورې تړلو اشخاصو لخوا تهدید
- د جرم د مرتکبینو یا دوی پورې تړلو اشخاصو لخوا غچ اخیستل او تاوتریخوالی
- ټولنیز پېغور او بدنامي
- د کورنۍ یا ټولنې څخه شړل
- نېول او توقیف کول
- د خدمتونو وړاندې کوونکو او عدالت تأمینوونکو لخوا د ملاتړ نشتون

د مستند کوونکو لخوا د دغو خطرونو د مخنیوي لپاره باید لاندې ګامونه پورته شي:

- د زیان نه رسول (Do No Harm) اصل مراعات کول.
- د محرمیت ساتنې د تر ټولو لوړو معیارونو په درلودلو سره د معلوماتو زېرمه کولو پروسو تنظیمول.
- یوازې د اړتیا په صورت کې د مرکې ترسره کول او د یو شاهد یا زیانمن شوي شخص څخه د یوې پېښې په اړه د بشپړو معلوماتو راټولولو څخه ډډه کول (شپږمه برخه وګورئ).
- د جنسي تاوتریخوالي پېښو د مستند کولو پرمهال یوازې د قطعي اړتیا په صورت کې له زیانمنو شویو، قربانیانو سره مرکه وکړئ او د دغه ډول اشخاصو سره د مرکو شمېر هم محدود کړئ.
- د خپل چاپېریال څخه ځان با خبر کړئ: په خوندي او شخصي موقعیتونو کې، چې بې طرفه او د زیانمنو شویو، قربانیانو او شاهدانو لپاره آرام او په آسانۍ سره د لاسرسي وړ وي، مرکې ترسره کړئ.
- ترلاسه شویو معلوماتو باندې په داسې عام ځای کې، چې له مستند کوونکو پرته نور اشخاص موجود وي، بحث مه کوئ. د مستند کولو ټیم څخه بهر له ملګرو او کورنۍ د غړو سره د دې معلوماتو په اړه بحث مه کوئ.
- تل له مرکه کېدونکي څخه پوښتنه وکړئ، چې له دوی سره د اړیکې نېولو تر ټولو خوندي لاره کومه ده.
- معلومات یوازې د اړتیا په صورت کې له نورو سره شریک کړئ.
- د مستند کولو په پروسه کې ونډه لرونکو کسانو او په ځانګړې توګه د قربانیانو، زیانمنو شویو او شاهدانو په اړه هر ډول معلومات مرکه کېدونکو ته هېڅکله مه ورکوئ.
- د امکان په صورت کې تل د مراجعو د اړیکو معلومات په لاس کې ولرئ، ترڅو مرکه کېدونکي د روغتیایي خدمتونو، رواني ټولنیز ملاتړ او نورو اړینو خدمتونو ترلاسه کولو لپاره معلومات ولري.

## د مستند کوونکو خوندیتوب او امنیت

د بشري حقونو د سرغړونو مستند کول په ټولنو کې د بدلون رامنځته کولو لپاره یوه پیاوړې او ځواکمنه وسیله ده، خو په هغو سیمو کې چې جنګ مصیبت ځپلي وي، دا کار له خطرونو ډک دی. مستند کوونکي باید د احتمالي خطرونو څخه خبر وي او د امکان تر بریده هڅه وکړي. ترڅو د مستند کولو پروسې څخه دمخه، د دې پروسې په جریان او وروسته دا خطرونه له منځه یوسي، خو که چېرې د یادو خطرونو له منځه وړل ممکن نه وي، مستند کوونکي باید د مستند کولو پروسه کې ګډون ونه کړي. دوی کولای شي وروسته وضعیت وارزوي او د یادو خطرونو له منځه تللو وروسته دا پروسه له سره پیل کړي.

په دې برخه کې ځیني عام خطرونه په لاندې ډول دي:

- د وسله والو ډلو او په ټولنه کې د نورو اشخاصو لخوا د مستند کوونکو پروړاندې تاوتریخوالی یا د تاوتریخوالي ګواښ
- د شخړواو جنګ اړوند تاوتریخوالی او بریدونه
- د مرکه کېدونکو، شاهدانو یا مستند کوونکو ناڅاپي نېول یا توقیفول
- د بشري حقونو سرغړونو مستند کولو په پروسه کې ښکېلو غیر دولتي موسسو پرضد اقدامات کول
- عاطفي ستړیا او نیابتی زیان او صدمه، چې د مستند کوونکو رواني ټولنیزه روغتیا زیانمنوي

مستند کوونکي د دوی د شاوخوا سیمې اړوند خطرونو پروړاندې چمتو وی په ځانګړې توګه کله چې د مصیبت ځپلې ساحې ته د مرکو کولو لپاره ځي او راځي. په دې خطرونو کې ترافیکي پېښې او نور خنډونه او همدارنګه چاپېریالي یا اقلیمي پېښې لکه سیلابونه او اورونه شامل دي.

مستند کوونکو ته په کار ده، چې د دې خطرونو د له منځه وړلو لپاره یو انفرادي او سازماني امنیتي پلان جوړ کړي، امنیتی پلانونه د ځایي شرایطو او موقعیت، هویت او نورو هغو عواملو پر بنسټ سره توپیر لري، چې د خطرونو په ډولونو، د خطرونو په مقدار او د داسې نورو باندې اغېزه پرې باسي. د امنیتي پلان په جوړولو کې لاندې موارد شامل دي:

- د ځایي شرایطو او موقعیت تحلیل
- د خطر ارزونه
- د ګواښ تحلیل
- د امنیتي پلان تدوین
- د پلان تطبیق او بیا کتنه

د امنیت په اړه د لومړی لیکې مدافعینو"د تمرین کتاب: په خطر کې د بشري حقونو مدافعینو لپاره عملي لارښوونې،[11] " د یو پیاوړي او هر اړخیز امنیتي پلان جوړولو لپاره عملي ابزارونه وړاندې کوي. د دې ترڅنګ، د ملګرو ملتونو"په شخړو کې د جنسي تاوتریخوالي پېښو د مستند کولو او څېړلو په اړه نړیوال پروتوکول" د خوندیتوب او امنیت تګلارو[12] په هکله ګټور معلومات لري.

## د ټولنیزو رسنیو کارولو لپاره عملي لارښوونې

په وروستیو کلونو کې د جنسیتي تاوتریخوالي پېښو د عام او لاسرسي وړ اسنادو یوه لویه برخه د ټولنیزو رسنیو د پلټفورمونو لکه ټویټر، یوټیوب، فیسبوک او انسټاګرام له لارې خپرې شوې دي. په ټولنیزو رسنیو کې خپاره شوي اسناد ټولنو او نړۍ ته دا ښیي، چې په جنګ جګړو کې څه پېښېږي او دا د جبران خسارت او ملاتړ په غښتلو کی مرسته

---

١١ د امنیت په اړه د لومړی لیکې مدافعینو"د تمرین کتاب: په خطر کې د بشري حقونو مدافعینو لپاره عملي لارښوونې (٢٠١١)،

https://www.frontlinedefenders.org/sites/default/files/workbook_eng_master.pdf

١٢ د ملګرو ملتونو لخوا، په شخړو کې د جنسي تاوتریخوالي پېښو د مستند کولو او څېړلو په اړه نړیوال پروتوکول، دویم چاپ.، (٢٠١٧)،

https://www.un.org/sexualviolenceinconflict/wp-content/uploads/2019/06/report/international-protocol-on-the-documentation-and-investigation-of-sexual-violence-in-conflict/International_Protocol_2017_2nd_Edition.pdf

کوی. سره له دې، چې ټولنیزې رسنۍ د زیات شمېر کاروونکو پروړاندې پرانیستې دي او ځینې معلومات که څېرې په ناسم ډول خپاره شي، د ناسمو خلکو لاس ته ورځي. په همدې موخه، په ټولنیزو رسنیو یا نورو انلاین سرچینو کې د پوستې کولو پرمهال لاندې عملي لارښوونې په پام کې ونیسئ:

- د قربانیانو، زیانمنو شویو او شاهدانو او د دوی د کورنۍ غړو تت انځورونه وکاروئ او اصلي انځورونه یې په خوندي ځایونو کې ذخیره کړئ، خو د هویتي معلوماتو لکه مخونو او نورو ځایونو معلومات باید په انلاین ډول شریک نشي.
- د امکان په صورت کې د انټرنټ کارولو پرمهال شخصي مجازي شبکه یا VPN وکاروئ، چې دا کار ستاسو د کمپیوټر او ټیلیفون د IP ادرس پېژندل پټ ساتي او هویت مو خوندي کوي. په یاد ولرئ، چې ځینې هېوادونه د VPN کارول تنظیموي او کاروونکو ته په کار ده، چې له دولت سره ځانونه ثبت کړي، نو په دې برخه کې له VPN کارولو دمخه د خپل هېواد د قوانینو او مقرراتو په اړه ځېرنه وکړئ.
- په ټولنیزو رسنیو کې د معلوماتو شریکولو په صورت کې د یو داسې پروفایل یا اکونټ پر کارولو فکر وکړئ، چې د یو سازمان لخوا اداره کېږي نه د یو شخصي اکونټ لخوا. دا کار له تاسو سره د یو فرد په توګه د خپل هویت په خوندي ساتلو کې مرسته کوي.
- د ټولنیزو رسنیو زیات پوسټونه په مستقیمه توګه د ټولنیزو رسنیو پلټفورمونو سره د وصل موبایل ټیلیفونونو څخه کېږي او په دې توګه محرم معلومات په ټیلیفونونو کې زېرمه کېږي. په یاد ولرئ، چې د پلټنې یا تالاشۍ محلونویا چک پاینټونه یا د وسله والو ډلو یا دولتي امنیتي ځواکونو د ګزمو څخه د تېرېدو پرمهال ستاسو په موبایل شته معلومات تاسو ته خطر پېښولای شي. د بېلګې په توګه، د تالاشۍ په محل کې یو ساتونکی کولای شي ستاسو د موبایل انځورونه، لیکلي پیغامونه یا بریښنالیکونه او نور معلومات ولټوي. د دغه ډول خطر په صورت کې د خپلو الکترونیکي وسایلو څخه محرم معلومات حذف او لرې کړئ.

## ۶- د حساب ورکونې مېکانیزمونو لپاره د مستند کولو د دوام ډاډمنول

د بشري حقونو د مدافعینو په توګه موږ داسې میکانېزمونه غواړو، چې د قربانیانو او زیانمنو شویو لپاره د عدالت د تأمین غوښتنه وکړي، ترڅو وکولای شو د بشري حقونو سرغړونې مستندې کړو. د دې لپاره، چې ځان ډاډمن کړو، چې راټولېدونکي معلومات د دغو میکانیزمونو لپاره موجود او د کارولو وړ دي، د واقعیتوب، بې طرفۍ او خپلواکۍ اصول رعایت او یواځې اړین او حتمي معلومات راټول کړو، ترڅو رسمي څېړونکي وکولای شي د نور تحقیق لپاره ځینې برخې په ګوته کړو.[۱۳]

### واقعیتوب، بې طرفي او خپلواکي

د بشري حقونو سرغړونو اړوند حقایقو راټولول د مستند کوونکي واقعیتوب، بې طرفۍ او خپلواکۍ ته اړتیا لري.

**واقعیتوب**"د بیروني معلوماتو، بلکې نه شخصي عواملو لکه شخصي فکرونو، عقایدو او تجربو په اړه اساسي قضاوتونو او څرګندونو ته تمایل درلودل واقعیتوب بلل کېږي."[۱۴] دا کار د معلوماتو وړاندې کوونکي شخص باندې د غیر ضروري نفوذ او تاثیر په مخه نیولو سره ترسره کېدای شي. په مرکو کې تشریحي پوښتنې وکړئ او هڅه وکړئ، هدایت کونکی پوښتنې مه کوئ، ترڅو ځواب ویوونکي د یو ځواب ټاکلو ته اړ کړي، لکه (ستاسو په فکر دا نوی قانون څومره بد دی؟) په حقیقي معلوماتو کې حقوقي تحلیل مه کوئ، بلکې د معلوماتو سرچینې وارزوئ او ځان ډاډمن کړئ، چې ټول اړوند معلومات په کې شامل دي، آن تر دې پورې که ستاسو په فکر د دې کیسې سره تناقض هم ولري.

**بې طرفي** د طرفونو نه نیولو، توپیري چلند نه کولو او متعصب نه پاتې کېدلو او د یو شخص د دوه ګوني چلندونو (کلتوري او شخصي) په اړه خبربدلو ته وایي. بې طرفي د سالمې کاري کړنلارې، باریک بینۍ، یا خپل نظر منلو مخنیوي او د هر ډول ګټو تضاد د مخنیوي په وسیله ساتل کېدای شي. د بېلګې په توګه، ټولې جنګي ډلې کېدای شي په ځینو سیمو یا شرایطو کې د بشري حقونو د سرغړونو مرتکب شي او دا مهمه ده، څو ستاسو لخوا په مستند کولو له دغو سرغړونو یادونه وشي، نه دا چې د یوې ځانګړې ډلې لخوا د حقونو په سرغړونو باندې سترګې پټې شي.

**خپلواکي** د هر ډول شخصي او سیاسي نفوذ او مداخلې څخه د مستند کولو پروسې لرې ساتلو او د سرغړونو مستند کولو هڅو او کوښښونو د کمزوري کولو په موخه د معلوماتو د ناسمو کاروونکو افرادو او سازمانونو په اړه خبر درلودلو ته ویل کېږي.

پر دې سربېره، تل په مسلکي او شفافه توګه او د درناوي او همدردۍ له مخې کار وکړئ او هڅکله د معلوماتو په بدل کې چاته د پیسو وړاندیز مه کوئ. په مرکو کې په سمه توګه غوږ ونیسئ او د مرکه کېدونکو خبرو ته پاملرنه وکړئ، درناوی یې وکړئ، مؤدب او حوصله ناک اوسئ. هڅه وکړئ د یوې مرکې په موقعیت کې د شخص اندېښنو او اړتیاوو ته ځواب ووایئ. د بېلګې په توګه، که دوی ډېر سترړي ښکاري، لږه دمه وکړئ او ځان ډاډمن کړئ، چې اوبو، تشناب، کاغذي دستمالونو او داسې نورو شیانو ته لاسرسی لري. د دوی په اړه قضاوت مه کوئ او د خپلې حرکي ژبې او دغږ لوړوالی/ ټیټوالی او کیفیت په پام کې ونیسئ.

### څومره معلومات باید راټول شي

مدني ټولنې باید د هغو افرادو او اشخاصو څخه د بشپړو شواهدو راټولولو څخه ډډه وکړي، چې ممکن د هغوی معلومات د حساب ورکونې میکانیزمونو کې د احتمالي څېړنو او څارنو اړوند وی. دا کار د زیان منونکو وګړو په برخه کې او هغه وخت خورا مهم دی، چې واک لرونکي تحقیقاتي اداري لکه د قانون د حاکمیت ځایي اداري او د نړیوالې جنایي محکمې د څار دفتر موضوع له نږدې څاري. په داسې حال کې، چې مدنې ټولنې کولای شي د یو شخص څخه لومړني عمومي معلومات راټول کړي، مستند کوونکي باید د پېښې په اړه بشپړ جزئیات ترلاسه نه کړي، ځکه د با صلاحیته څېړونکو لخوا وروسته یوه هر اړخیزه رسمي مرکه ترسره کېږي. هر معلومات، چې یو قرباني یا د پېښې شاهد یې وړاندې کوي کېدای شي وروسته په محکمه کې وڅېړل شي، په ځانګړې توګه په هغه صورت کې چې په ورکړل شویو معلوماتو کې جزئیات یو څه توپیر

۱۳ د لا زیاتو معلوماتو لپاره د جرمونو نړیوالې محکمې د څار دفتر او د حساب ورکونې لپاره د یورو جسټ د نړیوالو جرایمو او بشري حقونو سرغړونو مستند کول: د مدنې ټولنو لپاره لارښوونې، (۲۰۲۲)، https://www.eurojust.europa.eu/sites/default/files/assets/eurojust-icc-csos-guidelines.pdf برخې زیاته اندازه د دې لارښوونې پر بنسټ ترتیب شوې ده.

۱۴ د امریکا ارواپوهنې ټولنې (APA) د ارواپوهنې قاموس، https://dictionary.apa.org/objectivity




ولري یا یو له بل سره تناقص ولري. دا ځکه چې یو فرد سره باید یوازې یو وخت کې د اړوندو څېړونکو ادارو لخوا مرکه وشي او مدني ټولنې باید یواځې په هغه صورت کې ابتدایي عامې مرکې ترسره کړي، چې د یو شاهد یا قرباني سره مرکه کول اړین وي. د یادونې ده، چې په پوره جزئیاتو سره مرکې کولو هم قربانیانو ته د نورو زیانونو رسېدو په مخنیوي کې مرسته کوي.

مدني ټولنې کولای شي پرته له مرکې نور معلومات راټول کړي، چې دا کار د حساب ورکونې په میکانیزمونو کې خورا ګټور تمامېږي. د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي په ځینې نور حالاتو کې لکه د قربانیانو او بالقوه شاهدانو د موقعیت معلوملو، یا د قربانیانو او د جرمونه نقشه کول او همدارنګه د هغو موقعیتونو چې هلته قربانیان او بالقوه شاهدان مرسته ترلاسه کړی وی یا هلته ځای پر ځای شوي وي په اغېزناکه توګه د حساب ورکونې له هڅو ملاتړ وکړي. هر ډول راټول شوي مواد باید د دې لپاره خوندي وساتل شي، چې وروسته د اړوندو څېړونکو ادارو ته ژر تر ژره او په خوندي او مناسبه توګه وړاندې شی.

## د مرکو د ترسره کولو څرنګوالی

له قرباني یا شاهد شخص سره د مرکې ترسره کولو پرمهال لاندې موارد په پام کې ونیسئ:

۱- په عمومي ډول، د حقوقي کړنلارو لپاره د یو شخص د شاهدي ورکولو اړوند معلومات باید په یو ځل مرکې په ترځ کې راټول شي او دغه مرکې باید د مجربو تحقیق کوونکو لخوا ترسره شي. د مدني ټولنې مستند کوونکي باید له مرکه کوونکو لومړی عمومي معلومات راټول او د مرکه کوونکو سره د اړیکې نیولو معلومات په خوندي ډول وساتي، څو وکولای شي وروسته له دوی سره د حساب ورکولو مېکانېزمونو لپاره په مفصل ډول مرکې ترسره کړي. په بل عبارت، د مدني ټولنې مستند کوونکي باید له هر مرکه کوونکي سره د یوې ځانګړې پېښې په هکله په لومړي سر کې د مفصلې او ژورې مرکې ترسره کولو څخه باید ډډه وکړي؛

۲- د مدني ټولنې سازمانونه د زیانمنو او ګواهانو په پېژندنه او موندلو او ترڅنګ یې د جرمونو د ځایونو نقشه کولو کې مرسته کولای شي. دا ډول معلومات ترساتنې وروسته کېدای شي د څېړنې له مسوولینو سره شریک شي. د زیانمنو او ګواهانو د پېژندنې اړوند معلوماتو راټولولو پرمهال، له اړوندو معلوماتو سره مل د مفصل شهادت لاسته راوړولو څخه ډډه وکړئ، ځکه صلاحیت داره تحقیق کوونکي کولای شي له مرکه کوونکو سره مفصلې مرکې ترسره کړي.

۳- که چېرې د مدني ټولنې سازمانونه لازم نه ګڼي، چې له قربانیانو، زیانمنو یا شاهدینو څخه عمومي معلومات راټول شي، نو په دې صورت کې باید یوازې یو عمومي معلومات راټول وکړي. د بېلګې په توګه، که چېرې یوې بلې ادارې وار دمخه عمومي معلومات راټول کړي وي، نو په دې صورت کې د مدني ټولنې سازمانونو ته په کار نه ده، چې له قربانیانو، زیانمنو یا شاهدینو سره بله مرکه ترسره کړي.

٤- له شاهد سره بېلابېلې مرکې ترسره کول په احتمالي ډول د حساب ورکولو میکانیزمونو کې د شاهد اعتبار زیانمن کولای شي. د مثال په ډول، که چېرې یو زیانمن یا قرباني شخص د بېلابېلو مرکو په ترڅ کې مرکه کوونکو ته د پېښې په هکله بېلابېل معلومات ورکړي، په دې صورت کې د دې احتمال شته، چې عدلي او قضایي فعالین د دغو مرکو په ترڅ کې د وړاندې شویو معلوماتو ترمنځ هغه لږ توپیرونه وکاروي، چې په دې سره بنایي د شاهد اعتبار کمزوری شي، چې په نتیجه کې کېدای شي قربانیان له عدالت څخه محروم کړي. دا چاره په هغه صورت کې ډېره پېښېدونکې ده، چې مستند کوونکي د پوښتنو مطرح کولو یا مرکې ترسره کولو نامناسبه طریقه وکاروي. د اعتبار د کمزورې کولو د مخنوي لپاره، د مدني ټولنې سازمانونه اړ دي، چې تر لازمي حده د مرکو او پوښتنو ترسره کولو کې کموالی راولي. د مرکو ترسره کولو په جریان کې، مستند کوونکي باید په خونه کې د افرادو شمېر لږ تر لږه محدود کړي (د مثال په توګه، په خونه کې باید یوازې مرکه کوونکی، مرکه ورکوونکی او د اړتیا په صورت کې یو کومکي شخص لکه وکیل، ژباړن یا محرم شخص)؛

٥- د زیانمنونکو خلکو په ځانګړي ډول له دردېدلو اشخاصو او ماشومانو سره له مرکې کولو ډډه وکړئ او پرځای یې هڅه وکړئ، چې قربانیان او شاهدین په ګوته او معلوم کړئ او لازم معلومات ترلاسه کړئ، چې وروسته له اړوندو مسوولینو سره شریک کېدای شي؛

٦- له هغو قربانیانو، زیانمنو یا شاهدینو سره له بیاځلي مرکې ترسره کولو ډډه وکړئ، چې له وړاندې له دوی سره د ورته موضوع په هکله د تحقیق کوونکو، بل سازمان یا ورته سازمان یا دواړو لخوا مرکه ترسره شوي وي. د ورته موضوع په هکله بېلابېل شهادتونه کولای شي په وار وار د قرباني، زیانمن یا شاهد شخص د بیا صدمې، متضادو معلوماتو، ستړیا او له تحقیق کوونکو د مرکې ترسره کولو کې زړه نا زړه توب رامنځته کړي او ترڅنګ یې ډېر خطرونه رامنځته کولای شي؛

٧- هڅه وکړئ، له هغو خلکو سره چې مرکې مو ورسره ترسره کړې دي په خوندي او هوسا شکل اړیکه ونیسئ. په دې توګه به وکولای شئ، چې د دوی د هیلو د پوره کولو ترڅنګ د دوی د وضعیت او عمومي هوساینې څخه خبر شئ. دا کار مرسته کوي، چې شخص به هر وخت چې د کله دوی شهادت ورکولو ته ضرورت پېښ شي (بنایي میاشتې یا کال وروسته) د عدلي او قضایي مېکانیزم سره د مرکې لپاره د لاسرسي وړ وي؛

٨- ډاډ ترلاسه کړئ، چې د مرکو ترسره کولو لپاره تجربه لرونکي او روزل شوي مرکه کوونکي وټاکئ. د امکان په صورت کې، له مرکه کوونکو څخه د هغوی د خوښې برخې په اړه پوښتنه وکړئ، لکه د مرکه کېدونکي شخص د جنسیت، قومیت یا ژبې په اړه، چې دوی ځانونه په کې هوسا احساسوي؛

٩- له لرې واټن څخه د مرکې ترسره کول باید یوازې هغه مهال ترسره شي، چې د حضوري مرکې ترسره کول شونی نه وي. زیانمنونکو اشخاصو سره باید له لرې واټن څخه مرکې ترسره نه شي. د مرکې له ترسره کولو مخکې، د مرکې له امله مرکه کېدونکي شخص ته د متوجه ټولو احتمالي خطرونو ارزونه وکړئ. له مرکې دمخه، وګورئ، چې مناسب ټکنالوژیکي وسایل شتون ولري، لکه تیلیفون او د انټرنټ شتون او د دې ترڅنګ مرکه کېدونکي شخص ته د ځایي ملاتړ (رواني او تخنیکي ملاتړ) شتون څخه هم ځان ډاډمن کړئ؛

١٠- له کلتوري پلوه مشخصو لوژستیکي شرایطو ته په کتو، د شونتیا تر کچې مخکې له مخکې پلان ګذاري وکړي. د مرکې پرمهال د لمونځ او دمې لپاره کافي وخت

ځانګړې کړئ او خبرو ته کافي وخت ځانګړی کړی. د امنيتي تدابيرو نيولو څخه هم ځانونه ډاډمن کړئ. د پلان جوړونې پروسې پر وخت د ګډونوالو د تګ راتګ او استوګنې (سفرخرچه) لپاره بوديجه ځانګړې کړئ. د اړتيا په صورت کې، د ځان او مرکه کېدونکو اشخاصو لپاره خيالي قصې جوړ کړئ، چې په لارو کې يې د تګ راتګ پرمهال ناآشنا خلکو سره د مخامخ کېدو په صورت کې هغوی ته ووايي. (خيالي قصی د خلکو د اصلي هويت يا موخې پټ ساتلو لپاره کارول کيږي)؛ او

١١- مرکې په تشريحي پوښتنو پيل کړئ (مثلاً «راته ووايئ څه پېښ شول....»، «کولای شئ تشريح کړئ ..... »). دا چې تاسې بايد د شونتيا تر کچې تشريحي پوښتنې مطرح کړئ، نو که څېرې کومه موضوع ګونګه وي، په دې صورت کې داسې پوښتنې وکړئ، چې د «څېرته»، «څوک»، «کله»، «څه»، او «څنګه» سره پيل کيږي، څو د موضوع په اړه وضاحت ترلاسه شي. (د مثال په ډول، دا پېښه څه وخت واقع شوه؟ تاسو څنګه پوه شوئ، چې ګاونډی مو په ډزو وېشتل شوی؟)؛

١٢- په يوځل د څو پوښتنو له مطرح کولو ډډه وکړئ او پرځای يې بېلې بېلې پوښتنې وکړئ. د «هدايت کونکی پوښتنو» له مطرح کولو هم ډډه وکړئ – هدايت کونکی پوښتنې هغه پوښتنې دي، چې ځواب ته اشاره کوي او د ځواب ورکوونکي شخص ځواب اغېزمنولای شي. (د بېلګې په ډول، «آيا قوماندان خپلو عسکرو ته پر ښځه د بريد امر کاوه؟» پر ځای يې وپوښتئ، چې «آيا تاسو د قوماندان خبرې واورېدلې، چې څه يې ويل؟). [١٥]

## ٧- د حساب ورکولو لپاره عدالت غوښتنه

د بشري حقونو دادخواهی کمپاينونو کې په سم ډول يا په لوړ کيفيت مستند کول مهم رول لري او د بشري حقونو د راپورونو بنسټ جوړوي، چې په يوځانګړي هېواد يا موضوع کې د بشري حقونو د سرغړونو په اړه جزئيات راټولوي. مدني ټولنې او د بشري حقونو نورڅارونکي دا راپورونه نړيوالوهغو ميکانيزمونو ته وړاندې کوي، چې د بشري حقونو د قانون پلي کولو څارنه کوي. د باوري، اعتباري او خپلواکو معلوماتو په راټولولو کې د مدني ټولنې نقش ډېر اړين دی. د مدني ټولنو راپورونه، حکومتونه او نور فعالين د بشري مسووليتونو برخه کې خپلو مسووليتونو ته متوجه کوي او څو دغو مسووليتونه ځوابګوی واوسي. لاندې څو نړيوال ميکانيزمونه وړاندې شوي دي، چې د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي دغو مېکانيزمونو ته په افغانستان کې د بشري حقونو د سرغړونو او جرمونو په اړه معلومات واستوي.

## د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي

د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي د بشري حقونو کارپوهان دي، چې په يو ځانګړي هېواد کې يا د ځانګړې موضوع له مخې په ټولو هېوادونو کې د بشري حقونو د وضعيت څېړلو مسووليت په غاړه لري. ځانګړي راپور ورکوونکي د بشري حقونو مسائل تحليلوي، حکومتونو ته د دوی د بشري مکلفيتونو اړوند اقداماتو ترسره کولو په اړه سلا مشورې ورکوي، د ځانګړو حالتونو او مسائلو حل کولو د اړتيا په تړاو ملګرو ملتونو او نړيوالې ټولنې ته خبرتيا او معلومات ورکوي، د سرغړونو د قربانيانو په استازيتوب د حقونو غوښتنه کوي او د سپارښتنو له تعقيب څخه ډاډمنتيا ترلاسه کوي.

١٥ د حساب ورکولو مېکانيزمونولپاره د مستند کولو په هکله د لا زياتو معلوماتو لپاره د مهرباني له مخې د نړيوالې جنايي محکمې (ICC) د څارنوالۍ دفتراو Eurojust لخوا – د حساب ورکولو مقاصدو لپاره د نړيوالو جرمونو او بشري حقونو څخه د سرغړونو مستند کول: د مدني ټولنې سازمانونو لپاره لارښود، (٢٠٢٢)، https://www.eurojust.europa.eu/sites/default/files/assets/eurojust-icc-csos-guidelines.pdf

د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي د توکميزو لړکيو، ښځو، LGBTQI اشخاصو او د نورو هغو ډلو د حقونو د ساتنې پر اړتيا ټينګار کوي، چې د کار کولو، روغتيا، له شکنجې يا غير قضايي اعدامونو څخه د ازادۍ او د ټوپيري چلند څخه د آزادۍ او داسې نورو حقونو څخه محروم او له توپيري سره مخ دي.

## په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعيت په اړه ځانګړی راپور ورکوونکی

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعيت په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي لپاره يو نوی ماموريت وسپاره، چې د ٢٠٢٢ کال په اپريل مياشت کې يې ښاغلی ريچارډ بينيټ د دې دندې لپاره د کارپوه په حيث وټاکه. ځانګړي راپور ورکوونکي ته دنده ورکړل شوه، چې په افغانستان کې د بشري حقونو د فعلي وضعيت او د دې وضعيت د لا ښه والي لپاره د سپارښتنو وړاندې کولو په اړه راپور وړاندې کړي. د نړيوالو تړونونو په اډانه کې، چې افغانستان سره تصويب شوي دي، د ځانګړي راپور ورکوونکي په مسووليتونو کې د بشري حقونو د مکلفيتونو په ترسره کولو کې د اړوندو فعالينو سره مرسته کول هم شامل دي. د دې ترڅنګ، د ځانګړي راپور ورکوونکي په مکليفتونو کې مدني ټولنې ته د ملاتړ او سلامشورې وړاندې کول او په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعيت په اړه له ټولو اړوندو اړخونوڅخه د معلوماتو غوښتل، ترلاسه کول، ارزيابي کول او د همدې معلومات پر بنسټ د اقداماتو ترسره کول هم شامل دی. هغه بايد د دندې په اوږدو کې د جندر لېد او د ژوندي پاتې کېدو متمرکز چلند هم په پام کې ونيسي او په منظمه توګه د بشري حقونو شورا او عمومي غونډې ته راپور ورکړي. د ذکر شويو مسووليتونو سربېره، ځانګړی راپور ورکوونکی مکلف دی، چې په خپلو ټولو چارو کې د جنسيت اړخ او د زيانمن شخص محوره کړنلاره په پام کې ونيسي او په منظم ډول د بشري حقونو شورا او عمومي غونډې ته راپور ورکړي.

ځانګړي راپور ورکوونکي بينيټ افغانستان او په بهر کې د ښځو د بشري حقونو مدافعينو او مدني ټولنې سره د ګډ کار لپاره قوي هڅې کړې، څو ډاډ ترلاسه کړي، چې د دوی لومړيتوبونه او نظرونه د بشري حقونو شورا ته د هغه په بيانونو او راپورونو کې شامل کړي.

برېښناليک پته: hrc-sr-afghanistan@un.org

نور ځانګړي راپور ورکوونکي او کاري ډلې:

١- د ښځو پروړاندې تاوتريخوالی
٢- د بشري حقونو مدافعين
٣- غير قضايي، بې پوښتنې يا خپل سري اعدامونه
٤- داخلي بېځايه شوي وګړي
٥- کډوال
٦- خپلسري نيونې

## د ښځو پروړاندې تاوتريخوالی

د ښځو پروړاندې د تاوتريخوالي اړوند د ملګرو ملتونو ځانګړی راپور ورکوونکی له دولتونو، د بشري حقونو د تړونونو ادارو، د ملګرو ملتونو سازمانونو او مېکانيزمونو او د ښځو د مدني ټولنې ډلو په ګډون له غير دولتي سازمانونو څخه د ښځو پروړاندې د تاوتريخوالي، لاملونو او پايلو په اړه معلومات ترلاسه او راټولوي. د دې ترڅنګ، ځانګړي راپور ورکوونکی په ځايي، ملي، سيمه ييزه او نړيواله کچه د ښځو پروړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي لپاره د اقداماتو سپارښتنې هم وړاندې کوي. د ښځو پروړاندې

د تاوتریخوالي اړوند د ملګرو ملتونو ځانګړی راپور ورکوونکي کاري مسوولیتونو کې د جنسي او جنسیتي تاوتریخوالي او د جنسیت پر بنسټ توپیري چلند او ځورونو په ګډون د جنسیت اړوند زیات مسائل شامل دي.

برېښنالیک پته: vaw@ohchr.org

## د بشري حقونو مدافعین

د بشري حقونو د مدافعینو اړوند د ملګرو ملتونو ځانګړی راپور ورکوونکی د بشري حقونو د مدافعینو په اړه د ملګرو ملتونو د اعلامیې اغېزمن پلي کولو مسوولیت په غاړه لري او مکلف دی، چې د ښځو د بشري حقونو مدافعینو ته په ځانګړي پاملرنې سره د بشري حقونو د مدافعینو د وضعیت په اړه معلومات وغواړي، ترلاسه کړي او ځواب ورکړي.

برېښنالیک پته: hrc-sr-defenders@un.org

## غیر قضایي، خپلسري اعدامونه

د غیر قضایي، بې پوښتنې یا خپلسري اعدامونو اړوند د ملګرو ملتونو ځانګړی راپور ورکوونکی په ټولو هېوادونو کې د یو دولت لخوا د تصویب شویو تړونونو حالت په پام کې نیولو پرته د ژوند حق او له دې حق څخه د محرومیت ارزونه کوي. ځانګړی راپور ورکوونکی مکلف دی، چې د ژوند له حق څخه جدي سرغړونو ته د نړیوالې ټولنې پام ورواړوي. د ځانګړي راپور ورکوونکي دفتر په خپل راپور ورکولو کې پر جنسیت د تمرکز کولو سابقه لري.

برېښنالیک پته: hrc-sr-eje@un.org

## داخلي بې ځایه شوي وګړي

د داخلي بې ځایه شویو وګړو د بشري حقوق اړوند د ملګرو ملتونو ځانګړی راپور ورکوونکی د داخلي بې ځایه کېدو پروړاندې د نړیوال غبرګون، چې په دې غبرګونو او انتقالي مېکانیزمونو کې د داخلي بې ځایه شویو خلکو ګډون شامل دي، پر پیاوړتیا تمرکز کوي او ترڅنګ یې د داخلي بې ځایه شویو خلکو د بشري حقونو د درناوي لپاره هم مرسته ملاتړ کوي.

برېښنالیک پته: hrc-sr-idp@un.org

## کډوال

د کډوالو د بشري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړی راپور ورکوونکی د کډوالو د بشري حقونو د بشپړ او اغېزمن خوندیتوب پروړاندې د خنډونو د لرې کولو لارې او امکانات ارزوي او ترڅنګ یې د ښځو، ماشومانو او هغو کسانو ځانګړي زیانمنتیا په ګوته کوي، چې قانوني اسناد نه لري یا غیر منظم حالت کې دي. همدارنګه، د ملګرو ملتونو د دې برخې ځانګړی راپور ورکوونکی مکلف دی، چې د معلوماتو غوښتلو او تحلیلولو پرمهال د جنډر اړخ په پام کې ونیسي او د کډوالو ښځو پروړاندې د توپیري چلند او تاوتریخوالي بېلابېل ډوله پېښنو ته ځانګړې پاملرنه وکړي. د کډوالو د بشري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړی راپور ورکوونکی مکلفیتونو کې ټول هېوادونه شامل دي.

برېښنالیک پته: hrc-sr-migrant@un.org

## خپلسري نیونې

د خپلسري نیونې په اړه د ملګرو ملتونو کاري ډله مکلفه ده، چې د آزادۍ څخه د محرومیت قضیې وڅېړي، چې په خپل سر او یاد بشري حقونو په نړیواله اعلامیه کې یا د اړوندو هېوادونو لخوا منل شویو نړیوالو قانوني اسنادو کې د نړیوالو معیارونو سره په ټکر کې وي. همدارنګه، د خپلسري نیونې په اړه د ملګرو ملتونو کاري ډله له دولتونو سره د آزادۍ د خپلسري محرومه کولو مخنیوی او ساتنې او په راتلونکي کې ورته قضیو ته د پاملرنې او رسېدګۍ برخه کې همکاري او مرسته کوي. دا کاري ډله د توپیري چلند دلایلو له مخې د ښځو او LGBTI اشخاصو له آزادۍ څخه محروموول غندلې دي.

برېښنالیک پته: hrc-wg-ad@un.org

## په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت (یوناما)

د ملګرو ملتونو امنیت شورا په ۲۰۰۲م کال کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت (یوناما) رامنځته کړ او اوسنی کاري ماموریت یې د ۲۰۲۴ کال تر مارچ پورې غځول شوې ده. دغه ماموریت له رامنځته کېدو راهیسې په افغانستان کې د بدلېدونکي سیاسي حالت او بېړنیو اړتیاوو منعکس کولو لپاره جوړ شوی دی. یوناما د ملګرو ملتونو اداري، مرستې او پروګرامونه په افغانستان کې د اړو سره همغږي کوي. د ښځو د حقونو او د جنسیتي عدالت مدافعین په دوامداره توګه له یوناما څخه جنسیتي تاوتریخوالی ته د کلکې پاملرنې کولوغوښتنه کوي او د سولې په هڅو کې د ښځو معنی لرونکي ګډون ډاډمنوي. یوناما په خپلو ټولو چارو او فعالیتونو کې لکه د ښځو په مشرۍ مدني ټولنې سره ګډ کار کول، د جنسي او جنسیتي تاوتریخوالی په اړه څارنه او راپور ورکول او د مدافع وکیلانو په شمول د ښځو پروړاندې د بشري حقونو مدافعینو سره تاوتریخوالی برخو کې د جنډر لیدونو رایوځای کولو مکلفیت لري. د مدني ټولنې ډلې کولای شي په افغانستان کې د یوناما له کارکوونکو سره وګوري او د بشري حقونو د سرغړونو د اسنادو په ګډون معلومات شریک کړي.

له یوناما سره د اړیکي ټینګولو لپاره دغې وېبپاڼې ته مراجعه وکړئ:

https://unama.unmissions.org/contact

## د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمشنر دفتر

د بشري حقونو اداره (HRS) چې په ۲۰۰۲م کال کې رامنځته شوې وه له یوناما سره یوځای او اوس په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمشنر دفتر په توګه کار کوي. په افغانسان کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمشنر مرکزي دفتر کابل کې او درې ولایتي ځانګې او د زون په کچه اته دفترونه لري. دا اداره د حکومت له فعالینو، د جګړې له ښکېلو خواوو، مدني ټولنې، او نړیوالې ټولنې سره کډ کار کوي. د بشري حقونو اداره د بشري حقونو د سرغړونو په اړه د راپور ورکولو او د قانون حاکمیت پیاوړي کولو په موخه خپلواک معلومات او شواهد راټولوي.دا اداره په پنځو برخو کې فعالیتونه ترسره کوي: لکه وسله والو جګړو کې د ملکي وګړو ساتنه؛ ماشومان او وسله واله جګړه؛ د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړل او د ښځو د حقونو ښه والی؛ د شکنجې مخنیوی او د طرزالعمل خوندیتوب ته درناوی؛ بشري حقونه او سوله (د قرباني محوره عدالت په ګډون)؛ او د بشري حقونو د ملي بنسټونو، مدني ټولنې، او د بشري حقونو مدافعینو ته وده او ارتقاء ورکول. مدني ټولنه کولای شي اسناد او معلومات د بشري حقونو له ادارې سره شریک کړي او د جنسیتي تاوتریخوالی لپاره خپل غبر اوچت کړي، څو په دې سره یې خپل مشخص مسوولیت ادا کړی وي.

## د جرمونو نړیواله محکمه (ICC)

د جرمونو نړیواله محکمه د ترړون پر بنسټ یوه خپلواکه جنايي محکمه ده، چې د روم د قانون له مخې اداره کېږي. دا محکمه هغه کوي، چې د ډېرو جدي جرمونو، لکه څنګه چې د نړیوالې ټولنې لخوا تعریف شوي دي، د مرتکبینو معافیت پای ته ورسوي. د روم د قانون له مخې، محکمه د لاندې جرمونو په اړه واک لري: (۱) د نسل وژنې جرم؛ (۲) د بشریت ضد جرمونه؛ (۳) جنګي جرمونه؛ (۴) اود تېري جرمونه.

د ۲۰۲۲م کال د نومبر تر میاشتې پورې، د جرمونو نړیوالې محکمې د ۲۰۰۳م کال د می له میاشتې راهیسې په افغانستان کې د ترسره شویو جرمونو په اړه تحقیقات پیل کړي دي، په ځانګړې توګه د هغو جرمونو په اړه، چې د طالبانو او اسلامي دولت – خراسان ولایت (I-SK) لخوا ترسره شوي دي. مدني ټولنه کولای شي په مستقیم ډول د محکمو د څارنوالۍ دفتر کې له تحقیق کوونکو سره کار وکړي، ترڅو د جرمونو شواهد او همدارنګه مهم عمومي معلومات شریک کړي.

## د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو کمېټه (CEDAW)*

د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو کمېټه (CEDAW) د ښځو د حقونو په اړه د ۲۳ نړیوالو خپلواکو کارپوهانو یوه ډله ده، چې د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د ټولو ډولونو له منځه وړلو کنوانسیون پلي کولو څارنه کوي[١٦]. د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو تړون د ښځو د حقونو د پرمختګ او له توپیري چلند سره د مبارزې لپاره یوه مهمه وسیله ده. هغه هېوادونه، چې دا تړون یې تصویب کړی باید د تړون د تطبیق د وضعیت په اړه دغې کمېټې ته (په هرو څلورو کلونو کې یوځل) خپل مهالني راپورونه وړاندې کړي.

د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي د ښځو او نجونو د بشري حقونو د وضعیت په اړه خپل سیوری راپورونه (د دې راپورونو په هکله د لا زیاتو معلوماتو لپاره راتلونکې برخې ته مراجعه وکړئ) د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو کمېټې ته وړاندې کړي. راپورونه باید د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمشنر دفترته د Word سند په بڼه ohchr-cedaw@un.org برېښنالیک ته واستول شي. راپور باید د فوټ نوټ په ګډون ۳۳۰۰ کلمې ولري یا په مشترک ډول د سیوری راپورونو په بڼه ٦٦٠٠ کلمو کې وړاندې شي. په اسیا او اقیانوسیه کې د بشري حقونو د څار اداره (IWRAW)[١٧] د ځانګړو موضوعي موضوعاتو په ګډون د سیوری راپورونو جوړولو په تړاو لارښوونې وړاندې کوي.

افغانستان د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو تړون د ۲۰۰۳م کال د مارچ میاشتې په ۵ مه نېټه پرته له کوم خوندیتوب څخه تصویب کړ. مخکې له دې، چې طالبان د ۲۰۲۱م کال په اګست میاشت کې واک ترلاسه کړي، پخواني افغان حکومت دغې کمېټې ته خپل درې دورې راپورونه وړاندې کړل. د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو کمېټې د ۲۰۲۰م کال د مارچ میاشتې په ۱۰مه نېټه د درېیم راپور په تړاو د کتنې پایلې راپور خپور کړ.[١٨]

د نړیوالې ټولنې ډېری برخه طالبان د «دیفاکتو چارواکو» [١٩] په نوم یادوي. د ۲۰۲۲م کال د جنوری میاشتې په ۲۷ مه نېټه، د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو کمېټې په افغانستان کې له دیفاکتو چارواکو څخه وغوښتل، چې د ۲۰۲۱م کال د اګست میاشتې له ۱۵ نېټې راهیسې په افغانستان کې د ښځو او نجونو د وضعیت په اړه یو راپور وړاندې کړي. د ۲۰۲۳م کال د مئ میاشتې په ۲۲مه نېټه، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو کمېټې په غوښتنه د طالبانو ځواب خپور کړ. د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو کمېټې ته په افغانستان کې د ښځو او نجونو د وضعیت په اړه د راتلونکي راپور سپارلو وروستی نېټه د ۲۰۲۴م کال فبروری میاشت ټاکل شوې ده.

*کله چې دولتونه د دفاکتو حکومتونو لخوا کنټرولېږي، د ملګرو ملتونو د تړون د اداري د بیا کتنې پروسه څه ډول ترسره کېږي؟

د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو کمېټې CEDAW لخوا د افغانستان راتلونکې دوره یي بیا کتنه د نړیوال قانون یوه جالبه پوښتنه وړاندې کوي. افغانستان د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو تړون تصویب کړ. د ۲۰۲۱م کال د اګست میاشتې راهیسې، افغان حکومت نور په واک کې نه دی او دولتونه طالبان د حکومت په توګه نه پېژني. د رسمي حکومت پرځای، دولتونه طالبان د «دیفاکتو چارواکو» په نوم یادوي، هغه اصطلاح، چې په غیر دولتي ادارو کې لکه وسله والې ډلې، چې په یوه سیمه باندې کنټرول یا یو ډول حاکمیت لري، پلي کېږي او د خودمختاره او غالب ځواک په معنی لري[٢٠].

د غیر دولتي وسله والو فعالینو ته د دیفاکتو چارواکو په توګه د قانوني «شخصیت» د یوې بڼې په غزولو سره، چې سیمه کنټرولوي، نړیوال قانون دا تضمینوي، چې قربانیان کولای شي د جرمونو او بنسټیزو حقونو څخه محرومیت په حالت کې ځینې سرچینو ته لاسرسی ولری. په بل عبارت، دیفاکتو چارواکي، چې د دوی د سیمې د کنټرول له مخې تعریف کېږی، باید د بشري حقونو د بنسټیزوخوندیتوبونو ساتنې په ګډون د

١٦ د ښځو په وړاندې د توپیري چلند د ټولوډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون، (۱۸ دسمبر ۱۹۷۹)، https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/convention-elimination-all-forms-discrimination-against-women

١٧ په اسیا او اقیانوسیه کې د بشري حقونو د څاراداره https://cedaw.iwraw-ap.org/cedaw86/

١٨ د ښځو په وړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو کمیټې لخوا د افغانستان په اړه د دریممهالني راپور په اړه د کتنو پایلې راپور، (۱۰ مارچ ۲۰۲۰) https://documents-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/GEN/N20/061/90/PDF/N2006190.pdf?OpenElement.

١٩ په دې هکله د بیلګې لپاره په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه ځانګړی راپور ورکوونکی، د بشري حقونو شورا ته د AHRC/٥٢/٨٤ راپور ته چې د ۲۰۲۳م کال د فبروري په نهمه خپور شوی دی، مراجعه وکړئ https://www.ohchr.org/sites/default/files/2023-03/A_HRC_52_84_01.03.23-English.docx.

٢٠ آیا د دیفاکتو ریژیمونه بشری حقوق ته پابند دی؟

Heintze, Hans-Joachin, pp. 269-272, in: IFSH (ed.), OSCEÌ Yearbook 2009, Baden-Baden 2010, pp. 267-275, (2010), https://ifsh.de/file-CORE/documents/yearbook/english/09/Heintze-en.pdf

نړیوالو قوانینو بنسټیز اصول مراعات کړي، حتی که د یو حکومت په توګه پېژندل شوي هم نه وي.[۲۱]

د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو کمېټه CEDAW د دې اصل په پام کې نیولو سره رامنځته شوې، چې اوږدمهاله توپیري چلند د غیر توپیري چلند په اساس د ښځو او نجونو لپاره د پېژندل شویو نړیوالو بشري حقونو د ترلاسه کولو مخه نیسي. د کنوانسیون موخه دا ده، چې د بشری حقونو د سرغړونو مخنیوی، تحقیق او جبران ډاډمن کړي، چې معمولاً د ښځو او انجونو په شمول د لیزبین، ترانس جندر، و دوه جنسه ښځی او انجونو پروړاندې ترسره کېږي. هغه حقونه چې د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو تړون کې شامل دي، د بنسټیزو حقونو خوندیتوب څخه راوتلي دي، چې په حقیقت کې دیفا کتو چارواکي یې پر ساتنه مکلف دي، نو له همدې امله د ښځو پروړاندې د تبعیض د له منځه وړلو کمېټې لپاره ډېره اړینه ده، چې د ښځو او نجونو پروړاندې د بشري حقونو د سرغړونو په اړه معلومات ترلاسه کړي، چې د مدني ټولنې لخوا په «سیوری راپورونو» کې راټول او په ۲۰۲۴م کال کې د افغانستان په اړه د بیا کتنې لپاره وړاندې کېږي.

## سیوری راپورونه

سیوری راپورهغه ضمیموي یا «سیوری اچونکی» راپور ته وایي، چې د یو دولت لخوا د بشري حقونو د تړون د څارنې اداري ته ورکول کېږي او دا ډول راپورونه د غیر دولتي سازمانونو په ګډون د مدني ټولنې لخوا وړاندې/ سپارل کېږي. غیر دولتي سازمانونه د راپور ورکوونکو هېوادونو د بشري حقونو د ورځني وضعیت په اړه د باوري، اعتباري او خپلواکو معلوماتو برابرولو کې مهم نقش لري. سیوری راپورونه په رسمي دولتي راپورونو کې نیمګړتیاوې، تېروتنې، یا غلطی په ګوته کوي او ترڅنګ یې د تړون د شرایطو مطابقت کې د دولتونو هڅې هم ارزوي. د سیوری راپور ورکولو پروسه د بشري حقونو د نړیوالو کنوانسیونونو تر چتر لاندې حکومتونه د دوی د مسوولیتونو پروړاندې ځواب ویلو کې مهم رول لوبوي.

د افغانستان په اړه د ښځو پروړاندې د توپیري چلند د له منځه وړلو کمېټې CEDAW لخوا د بیاکتنې راپورونو برخه کې، سیوری راپورونه د یو رسمي حکومت پرځای د ضمیموي اسنادونو په توګه د دیفاکتو چاراواکو لخوا سپارل کېږي. دمدني ټولنې سیوری راپورونه د هغو بشري حقونو سرغړونو ته د نړیوالو پام راجلبولو کې مهم رول لوبوي، چې ښځې او نجونې او ترڅنګ یې هغه کسان چې د توکم، جنسیت مایل یا جنسیتي هویت پر بنسټ د متقابلو هویتونو سره د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې ورسره مخ دي.

د ملګرو ملتونو د تړون بنسټونو ته د مهمو معلوماتو ورکولو سربېره، د مدني ټولنې سیوری راپورونه کولای شي د غیر دولتي سازمانونو د عدالت غوښتنې هڅو کې بنه والی رامنځته کړي. سیوری راپورونه د لاندې موارډو لپاره وسیله ګڼل کېږي:

۱- د تبلیغاتو او ښوونې او روزنې فعالیتونو له لارې د اصلاحاتو لپاره د سیاسي فشار زیاتول؛

۲- په نړیوال سستم کې د پراخو عدالت غوښتنې هڅو لپاره د بنسټ جوړول؛

۳- د قربانیانو غږ اوچتول او پیاوړي کول؛ او

٤- دعدالت غوښتنې لپاره د ائیتلافونو او حرکتونو جوړول.

## د عدالت غوښتنې لپاره د قرباني - محوره او د بشرحقونو پر بنسټ کړنلاره

د عدالت غوښتنې لپاره د حقونو پر بنسټ کړنلاره د ګډون، غیر توپیري چلند، حسابورکونې او د بشري حقونو په اصولو ټینګار کوي. همدارنګه دا کړنلاره د بدلون لپاره د حقونو د ساتونکو فعالینو په توګه د ځایي ټولنو پر ایجنسی ټینګار کوي. د تاوتریخوالی په حالت کې، د نفوس یوه د پام وړ برخه کېدای شي زیانمن شي. د دوی غږ او اړتیاوې باید پراخې شي او له دوی سره باید د عدالت په پروسه کې معنی لرونکی ګډ کار وشي.

د جنګ ځګړو او ظلمونو قربانیان په نړیوالو قوانینو کې د حقونو او دخساره د جبران حق لري. د بشري حقونو د نړیوال قانون او د نړیوال بشردوستانه قانون څخه د جدي سرغړونو قربانیانو ته د غرامت او د خساره جبران حق په اړه د ملګرو ملتونو بنسټیزو اصولو او لارښوونو کې وضاحت ورکړل شوی دی، چې د لاندې موارډو په ګډون دولتونه د قربانیانو حقونه څه ډول تضمین کولای شي:

- په داخلي قوانینو کې د نړیوالو بشري حقونو او بشردوستانه قوانینو نورمونه شاملول؛
- د رسېدلي زیان په تناسب د کافي، اغېزمن او سمدستي جبران چمتو کول. د جبران اقدامات بنايي د نورو اقداماتو په ګډون د بیا ادابنې، جبران، د نه تکرار تضمین او بیارغونې په بڼه وي؛
- د سرغړونو او د جبران میکانیزمونو په اړه اړونده معلوماتو ته د لاسرسي ډاډ ترلاسه کول؛
- په مناسبه، سمدستي، بشپړ او بې طرفه توګه د سرغړونو څېړل او د راتلونکو سرغړونو د مخنیوي لپاره اقدامات کول؛
- د کورنیو او نړیوالو قوانینو سره سم د تورنو مسوولو کسانو پروړاندې اقدام کول؛ او
- د هغو کسانو لپاره عدالت ته د برابر او اغېزمن لاسرسي چمتو کول، چې د بشري حقونو او یا د بشر دوستانه قانون څخه د سرغړونې د قربانیانو ادعا کوي.

پورتنۍ لارښوونې په دې هم ټینګار کوي، چې د محدودیتونو قوانین باید د بشري حقونو د نړیوال قانون څخه په جدي سرغړونو او د نړیوال بشر دوستانه قانون پرهغو جدي سرغړونو باندې پلي نه شي، چې د نړیوال قانون له مخې جرمونه تشکیلوي.

---

۲۱ پورتنۍ ماخذ، ۲۶۹-۲۷۰ مخونه.

# ۸ - د بشري حقونو مدافعینو لپاره رواني ټولنیز ملاتړ [۲۲]

## د بشري حقونو د سرغړونو د مستند کوونکو لپاره رواني ټولنیز ملاتړ ولې مهم دی

د بشري حقونو مدافعین زیاتره وخت په مستقیم ډول د هغو خطرونو له امله، چې دوی ورسره مخ دي او په غیر مستقیم ډول د بشري حقونو د سرغړونو د راپورونو د پرله پسې افشا کېدو په پایله کې د فشار او صدمې سره مخ کېږي. دوی په منظم ډول د قرباني یا شاهد شخص له بیانونو اخیستلو یا د راپورونو لپاره د نورو څېړنو ترسره کولو له لارې د حقونو سرغړونو په اړه اوري. د سمې پاملرنې پرته، د دغو مستقیمو او غیر مستقیمو خطرونو پېښېدل کولای شي د بشري حقونو د مدافعینو فزیکي او رواني روغتیا زیانمنه کړي او د چارو پرمخ بېولو وړتیا یې کمزورې کړي.

په ورته وخت کې، د بشري حقونو مدافعین د خپلې روغتیا ساتنې لپاره اکثره وخت انعطاف یا غښتلتیا ښیي او د روغتیا ساتنې نوې ستراتېژۍ په لاره اچوي. انعطاف «د یو شخص یا یوې ډلې هغه ظرفیت دی، چې د کمزوي کوونکو پېښو، د ژوند ستونزمنو شرایطو او سختو صدماتو سره سره په مثبت ډول د راتلونکي لپاره خپل ژوند ته دوام ورکړي.[۲۳]» خو دا په دې معنی نه ده، چې د بشري حقونو مدافعین باید همېش هغه صدمات، چې دوی ورسره مخ کېږي، وزغمي. د خوندیتوب او امنیتی ستراتېژیو سره سره، د رواني ټولنیزملاتړ او بیارغونې خدماتو ته د لاسرسي لپاره د میتودونو پلي کول کولای شي د انعطاف رامنځته کولو کې مرسته وکړي.

## رواني فشار او فزیکي صدمه

رواني فشار د فزیکي یا رواني ستونزې په وړاندې یو عادي عکس العمل دی هغه مهال رامنځته کېږي، چې کله هیلې او شرایط د شخص له توانمندۍ پورته وي یا یې د لاسته راوړلو لپاره منابع شتون ونه لري. د شکنجې پروړاندې د نړیوال سازمان (OMCT) اړوند د انعطاف ستراتېژیو په تړاو لاربنود کتاب (په IX برخه کې شتون لري) کې د رواني فشار پنځه ډولونه وړاندې کړیؤ چې لاندې ذکر شوي دي:

**۱- د دنده ستړتیا:** «د فزیکي، روحي او رواني ستړیا حالت ته وایيؤ چې د ستړیا، بې وزلی، نااميدی او رواني اختلالاتو له امله رامنځته کېږي او د کار، ژوند او خلکو په وړاندې یې د زړه توري سبب کېږي. د رواني فشار لرونکو حالتونو په پایله کې رامنځته کېږي، چې یو فرد د لوړې کچې رواني فشار سره مخ کوي او د ژوندانه سره د مطابقت وړتیا له لاسه ورکوي.

**۲- ترومائیک استرس:** رواني فشارهغه وخت پر اضطراب بدلېږي، چې اوږدمهاله شي او وخت ناوخت پیښېږي او بد وضعیت ته لاړ شي. ژور خپګان د یوې ستونزې، غوښتنې، ګواښ یا بدلون پروړاندې د عکس العمل ته وایي، چې د یو فرد له ظرفیت څخه لوړ وي.

**۳- د بحرانی حادثه /شدید رواني فشار:** هغه رواني غبرګونونو ته وایي، چې د یوې ناوړه پېښې یا صدمې په پایله کې رامنځته کېږي، چې په ترڅ کې یو فرد یا د دوی چاپېریال د جدي ګواښ یا جدي خطر سره مخ کېږي، لکه د ګواښونو ترلاسه کول، تعقیب کېدل، تجربه کول او/ یا د برید، بمبارۍ یا تښتونې او داسې نور شاهدان.

**۴- اوږدمهاله فشار:** د ورځنی فشارونو پایله دهؤ چې په تدریجي ډول د یو شخص ژوند ته لار پیدا کوي. که څه هم کاري اوږدمهاله فشارونه په خپله د جدي پېښو په پرتله ټیټ شدت لري، خو د دې فشارونو اوږدمهاله ماهیت کولای شي خورا لوړ فشار رامنځته کړي. د دې فشارونو تدریجي ماهیت له امله ښایي یو کس پوه نه شي، چې دوی فشار سره مخ، خو په پایله کې کس د ورته فشارونو د تجربه کولو له امله پر شدید رواني استرس اخته کېږي. د بشري حقونو مدافعین پر اوږدمهاله فشار د ځینو لاندې موارد په امله اخته کېږي، چې عبارت دي له:

- غیر منظم او حساس کاري چاپېریال
- د نه ترلاسه کېدونکو اړتیاوو له امله د ستړیا احساس کول
- سخت ضرب الاجلونه او د همکارانو فشار
- پراخ ګواښونه، دوامداره امنیتي خطرونه
- د اخلاقي ستونزو سره مخ کېدل
- د اوږدمهاله خوب نه لرل"

**۵- اداري یا کاري فشار:** د کارونو د ترسره کولو څرنګوالي پورې تړاو لري او د اداري مسائلو، کاري بوج او د یوې اداري د چلولو لپاره د اړتیا وړ وخت او انرژي، د پروژې کارونو، د پروژې نېټه او د تمویل اندېښنو له امله رامنځته کېږي. [۲۴]

تروما هغه تجربه ده، چې د یو شخص فزیکي یا رواني بشپړتیا ته زیان پېښوي. ډېرې وختونه د پېښې پرمهال د ګډوډۍ، د حافظې له لاسه ورکول، چټې توب، وحشت، ابهام، یا حیرانتیا تجربو سره تړاو لري[۲۵]. د دردناکو پېښو پروړاندې غبرګونونو کې د یوازیتوب احساسات، رواني ورکېدل، د پېښو بیارغولو ته اړتیا، د معنی په لټه کې، په نړۍ کې د یو چا په هویت او ځای شک، د مسوولیت یا جرم احساس، ذلت یا شرم او د انسان د شرافت په اړه د بنسټیزو باورونو شک، د نړۍ د وړاندوینې وړتیا او د خپل ژوند د کنټرول وړتیا اړوند موارد شامل دي. د شکنجې پروړاندې د نړیوال سازمان (OMCT) اړوند د انعطاف ستراتېژیو په تړاو لاربنود کتاب کې د فزیکي مختلف ډولونه وړاندې شوي دي، چې لاندې ذکر کېږي: [۲۶]

**۱- لومړنی تروما:** هغه مهال رامنځته کېږي، چې یو شخص په مستقیم ډول له یوې دردناکې پېښې لکه تاوتریخوالي سره مخ شي.

**۲- ثانوي تروما:** نورو ته د پېښو شویو دردناکو پېښو د لیدلو، اورېدلو یا لوستلو له امله هغه رواني فشار او فزیکي عکس العملونو ته راجع کېږي، چې د ورته عکس العملونو له دې امله لامل کېږي لکه شخص چې خپله ورته پېښه تجربه کړې وي. په ځینو مواردو کې، د صدماتو کچه تقریبا په ثانوي قربانیانو کې د اصلي قربانیانو په خبر ډېره

---

۲۲ دا برخه په لومړي سر کې د شکنجې پر وړاندې د نړیوال سازمان (TCMO) لاربنود ته اشاره کوي چې د بشري حقونو مدافعینوته د رواني ټولنیزملاتړ او انعطاف ستراتیژیولپاره چمتو شوی دی. TCMO، «څوک د دوی په سم ذهن کې غواړي چې د دې سره مخ شي؟» د دوامداره بشري حقونو حرکتونو لپاره د پیاوړتیا ستراتیژۍ
https://www.omct.org/site-resources/files/Resilience-strategies_Guide_EN.pdf

۲۳ OMCT، "څوک د دوی فکر کې غواړي چې د دې سره مخ شي؟» د دوامداره بشري حقونو حرکتونو لپاره د پیاوړتیا ستراتیژۍ، پنځم مخ
https://www.omct.org/site-resources/files/Resilience-strategies_Guide_EN.pdf

۲۴ پورتنی ماخذ، ۲۱ مخ.

۲۵ پورتنی ماخذ، ۲۲ مخ.

۲۶ پورتنی ماخذ، ۲۳ مخ.

وي. د دې صدمې په نښو نښانو کې ژور خپګان، اضطراب، وېره، بدني اغېزې او داسې نور شامل دي.

**۳- د همدردۍ او خواخوږۍ سټرېا:** دا فزيکي او رواني سټرېا هغه حالت ته وايي، چې په شخصي او/ يا مسلکي ژوند کې يو شخص ډېر زياد د نورو د پام کولو دنده تر سر رسولې وي، او نښو نښانو کې يې سټرېا او د نورو سره د خواخوږۍ کمېدل شامل دي.

**۴- متقابله تروما:** هغه اغېز ته وايي، چې د قرباني کيسه يې د اورېدونکي په ستونزو يا تجربه پرې باسي. د مثال په توګه، د جنسي تېرې يا له غم ډکې کيسې اورېدل، چې امله يې يو عزيز کس له لاسه تللی وي، د دې لامل کېدای شي اورېدونکي خپلې ورته د ناوړه ګټه اخيستنې تجربې يا له د نږدې کس له لاسه ورکولو واقعې ته بوځي.

**۵- ډله ييزه فزيکي صدمه:** «هغه صدمې ته وايي، چې د يوې ډلې، ټولنې يا کلتور غړي يې تجربه کوي. دا صدمه د ګډو ارزښتونو او باورونو سېستمونه کمزوري کوي او کېدای شي د (الف) ټولنيزشرايط، اقتصادي، يا مادي شرايطوله امله چې د اړوندو اکثريت غړو په کی شريک دی رامنځته شي؛ (ب) ډله ييزه فزيکي صدمه کېدای شي د سياسي او ټولنيزو شرايطو له امله هم رامنځته شي؛ او (ج) بالاخره ډله ييزه صدمه کېدای شي د افرادو يا ډلې د امنيت لپاره د ګواښ يا وېرې شرايطو له امله رامنځته شي.[۲۷]

## د بشري حقونو مدافعينو لپاره د رواني ټولنيز ملاتړ اړوند ستراتېژۍ او غوره کړنې

د بشري حقونو مدافعين کېدای شي په قربانيانو کې د دوی له حسابولو سره له دې امله مخالفت وکړي، چې اکثراً دوی د خپلو اړتياوو يوې خوا ته کولو اړتيا احساسوي. همدارنګه د رواني ټولنيزې روغتيا بحرانونو سره تړلې خجالتونه هم کولای شي د مرستې په لټه کې د دوی مخه ونيسي. سربېره پردې، د وسله والې جګړې او ځورونې په حالتونو کې د فشار او صدماتو نورمال کول ښايي د ځان پاملرنې ته د مدافعينو مخنيوی وکړي. همداشان، د بشري حقونو سازمانونه کولای شي د غړو ترمنځ د قربانۍ کلتور بنسټيز کړي، د مثال په توګه، د ډله ييزې هوساينې اړتيا ته د نه پېژندلو له لارې ياد ملاتړ چمتو کولو څخه ډډه کول.

د بشري حقونو مدافعينو لپاره رواني ټولنيز ملاتړ ښه والي په موخه لاندې يو لړ سپارښتنې وړاندې شوې دي:

۱- دا منل، چې د بشري حقونو مدافعين، د عادي خلکو په توګه، رنځ او ضعف لري. د «سوپر قهرمان سندرم» په قابو کولو او د انفرادي او ډله ييزو ځان پاملرنې ته په لومړيتوب ورکولو سره کولای شو د بشري حقونو انعطاف وړ حرکتونه رامنځته کړو.

۲- سازمانونه بايد د فعالينو لپاره په ازادانه ډول د خپلو تجربو او ستونزو شريکولو لپاره خوندي ځايونه برابر کړي. د ملګرو ملاتړ د رواني ټولنيزې هوساينې تر ټولو مهمه لاره او چاره ګڼل کېږي.

۳- د رواني ټولنيزملاتړ لپاره نورې اجتماعي تګلارې په لاندې ډول دي:

الف- غير رسمي راټولېدنې (اجتماع ګانې): هغه راټولېدنې دي، چې د ټيم غړي په کې کولای شي يو بل ووينې او خپلې ستونزې او مشکلات په کې شريک او ترخګنګ يې يو بل ته دوه اړخيز ملاتړ وړاندې کړي او په خپل منځ کې د ژمنتيا احساس پياوړی کړي.

ب- ګروپي مشورتي ناستې: هغه ناستې دي، چې د بهرنيو متخصصينو (رواني پوهانو) لخوا ځارل کيږي او د ډلې غړي په کې کولای شي د کاري ژوند اړوند هغو مسائلو په اړه بحث وکړي، چې د دوی د اضطراب او خفګان لامل کېږي.

د بشري حقونو د مدافعينو لپاره د ډله ييز رواني- ټولنيزملاتړ لپاره کومه واحده کړنلاره شتون نه لري، خو د شکنجې پروړاندې د نړيوال سازمان (OMCT) اړوند د انعطاف ستراتېژيو په تړاو لارښود کتاب (چې په IX برخه کې د دې کتاب لېنک شتون لري) کې د بشري حقونو د مدافعينو لپاره د رواني ټولنيز ملاتړ ستراتېژۍ جوړولو څرنګوالي په اړه ګام په ګام لارښوونې وړاندې شوې دي.

## ۹- د لازياتو معلوماتو منابع

### د بشري حقونو د سرغړونو قربانيانو او زيانمنو سره د مرکې ترسره کولو اړوند لارښوونې

د جرمونو نړيواله محکمې اړوند د څارنوالۍ دفتر او د Eurojust لارښود - د حساب ورکولو موخو لپاره د نړيوالو جرمونو او د بشري حقونو سرغړونو مستند کول: د مدني ټولنې سازمانونو لپاره لارښود کتاب

https://www.eurojust.europa.eu/sites/default/files/assets/eurojust-icc-csos-guidelines.pdf

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کميشنرۍ دفتر- د بشري حقونو د څارنې لارښود، ۱۱ څپرکی- مرکه کول

https://www.ohchr.org/sites/default/files/Documents/Publications/Chapter11-MHRM.pdf

د نړيوالو جنايي تحقيقاتو انسټيټيوټ (ICCI) – له لرې واټن څخه د مرکې ترسره کولو لارښوونې

https://iici.global/0.5.1/wp-content/uploads/2021/08/IICI-Remote-Interview-Guidelines.pdf

### د جنسي او جنسيتي تاوتريخوالی مستند کولو لارښوونې

په شخړه کې د جنسي تېري اړوند قضيو مستند او تحقيق کولو په اړه نړيوال پروتوکول

https://www.un.org/sexualviolenceinconflict/wp-content/uploads/2019/06/report/international-protocol-on-the-documentation-and-investigation-of-sexual-violence-in-conflict/International_Protocol_2017_2nd_Edition.pdf

UN Women - د ښځو او نجونو پروړاندې د تاوتريخوالي له قربانيانو سره خوندي سلا مشورې

https://www.unwomen.org/sites/default/files/2022-12/Safe-consultations-with-survivors-of-violence-against-women-and-girls-en.pdf

۲۷ پورتنی ماخذ، ۲۳ مخ.

د جنسي او جنسيتي تاوتريخوالي په ګډون د حقونو د سرغړونو او جرمونو مستند کولو په اړه د تاوتريخوالی د نړيوالو جنايي تحقيقاتو انستيټيوټ (IICI) پاڼه

https://iici.global/publications/

د سيستماتيک او شخړو پورې اړوند جنسي تاوتريخوالی په اړه د معلوماتو راټولولو او کارولو لپاره د نړيوال چلند قانون يا Murad Code

https://www.muradcode.com/murad-code

## د رواني ټولنيز ملاتړ منابع

د شکنجې پروړاندې نړيوال سازمان (OMCT) – د بشري حقونو حرکتونو پياوړتيا ستراتېژۍ

https://www.omct.org/site-resources/files/Resilience-strategies_Guide_EN.pdf

د FEMENA اړوند Yara د ښځو د بشري حقونو مدافع مرکز:

https://femena.net/yara-resource-center/

نړيوال رواني ټولنيز سازمان IPSO

https://ipsocontext.org/about-us/rethinking-mental-health/

## د پاليسۍ اړوند مهم اسناد

د جنسيتي تعذيب د جرمونو په اړه د جرمونو نړيوالې محکمې اړوند د څارنوالی دفتر پاليسي

https://www.omct.org/site-resources/files/Resilience-strategies_Guide_EN.pdf

د جنسي او جنسيتي جرمونو په تړاو د جرمونو نړيوالې محکمې اړوند د څارنوالی دفتر پاليسي خبرپاڼه

https://femena.net/yara-resource-center/

MEDRE او UN Women، په جنګ جګړو او ظلمونو کې جنسيتي تعذيب پيژندل: د بشريت ضد جرمونو د مستند کوونکو، څېړونکو او قضاوت کوونکو لپاره يوه معلوماتي (۲۰۲۱)

https://www.unwomen.org/en/digital-library/publications/2022/01/identi-fying-gender-per- secution-in-conflict-and-atrocities.

MADRE

Afghanistan Human Rights
Coordination Mechanism